PDFBOOKSFREE.PK

ستوری

سید خالقداد اُمید

یونیورسٹی بک ایجنسی خیبر بازار پیشاور شہر

بسم اللہ الرحمن الرحیم

معزز قارئین توجہ فرمائیں!

پاکستان ورچوئل لائبریری پر موجود تمام کتابیں قارئین کے مطالعے اور دعوتی واصلاحی مقاصد کے لئے اپلوڈ کی جاتی ہیں۔

تنبیہ

کسی بھی کتاب کو تجارتی یا مادی نفع کے حصول کی خاطر استعمال کرنے کی سخت ممانعت ہے، اور ان کتب کو تجارتی یا دیگر مادی مقاصد کے لیے استعمال کرنا اخلاقی، قانونی و شرعی جرم ہے۔

PVL
PAKISTAN VIRTUAL LIBRARY
www.pdfbooksfree.pk

Courtesy www.pdfbooksfree.pk

ستوری

سید خالقداد امید

پتراس روڈ سنز چوک فوارہ انارکلی مارکیٹ پبلیشرز لاہور

Courtesy www.pdfbooksfree.pk

جملہ حقوق محفوظ

کتاب نوم ـــــــــ ستوری
شاعر نوم ـــــــــ سید خالقداد اُمید
پتہ ـــــــــ بانڈہ پایان ملاکنڈ ایجنسی
کاتب ـــــــــ حضرت شاہ
چاپ نیتہ ـــــــــ مارچ ۱۹۹۶ء
پریس ـــــــــ بشارت پرنٹرز پیشور
تعداد ـــــــــ یو زر (۱۰۰۰)
بیعہ ـــــــــ ۵۰ روپے

درکونہ

(۱)
بانڈہ پایان - پلئ درہ ملاکنڈ ایجنسی

(۲)
پشتو اسوسی چوک فوارہ - آنارکلی مارکیٹ پیشنو رصدر

(۳)
یونیورسٹی بک ایجنسی خیبر بازار پیشنو رینبار

Courtesy www.pdfbooksfree.pk

سرطاق

شمیره	اولنۍ مصرعه	مخ
۱	ستا په درګاه کښې لویه خدایه زړه دا سوال کومه	۷
۲	دا موسیالی دا سوکالی دا موګلشن دے	۸
۳	زړه به ترے زاریږم ماګنلے په مړانه دے	۹
۴	زړه ستا په سرسیالی کومه اے زما وطنه	۱۱
۵	ځئ چه رایو ځایئ شو جوړ دَ مینے یو دیوال شو	۱۳
۶	ملک م یو ګلشن دے پکښې رنګ په رنګ ګلونه	۱۵
۷	ښکلے دے وطن زما دَ هرچا نه دے ګرانه په ما	۱۶
۸	په هر مخاذ به زړه جګیږم دُ ښمنانو سره	۱۷
۹	زړه به په څه رنګے ددے خپل وطن پکار شم	۱۸
۱۰	لکه ګلونه چه ښائسته ښکاری چمن کښې	۱۹
۱۱	په خپله خاوره دَ وطن مونږ ه نازیږو	۲۰
۱۲	څومره په ماګران یئ را ته خوږ یئ له هرچا نه	۲۱
۱۳	ستا په عظمت باندے به سرومال شنیدمه	۲۳
۱۴	ځان به ترے لوګے کړم دَ خپل ځان نه په ماګران دے	۲۵
۱۵	ګلونه اوکرئ هم زولو پسرلی راوَلئ	۲۶
۱۶	مدام سپرلے دِ وی په تاسو دَ وطن ګلونو	۲۷
۱۷	وطن مولکه ستورے وطنونو کښې ځلیږی	۲۸
۱۸	تهٔ مو ښائست تهٔ خوشحالی تهٔ مو آرمان وطنه	۲۹
۱۹	دا زمونږ وطن دے مونږ له دے نه به زاریږو	۳۰

Courtesy www.pdfbooksfree.pk

شمیره	اولنئ مصرعه	مخ
۲۰	هرخوانه پلو شے دَ ودانئ په ملک خورېږی	۳۱
۲۱	دا ګلونه دی زمونږ دا چمن دے زمونږ	۳۲
۲۲	زهٔ دَ چانه کم نهٔ یم خاوند دَ خپل هیواد یمه	۳۳
۲۳	دا زما بچی دی یو تربله به زاریږی	۳۴
۲۴	چه دَ وخت قدر نهٔ کوی نصیب یئے خوار دے	۳۶
۲۵	په هر تکلیف کښی به کوؤ سره لاسونه	۳۷
۲۶	په ډیره مینه درته وایو سلامونه	۳۸
۲۷	اے زما بچیه! دَ پردو خپلو پکار شے	۳۹
۲۸	باران دَ خوشحالئ دِ مُدام تاسو باندے اوری	۴۰
۲۹	راځئ په سپوری چه اووایو سبقونه همزولو	۴۱
۳۰	سحر چه پاسم اول مور پلار ته سلام کوؤمه	۴۳
۳۱	ما په ډیره مینه ځانله دا جوړ کړے کور دے	۴۴
۳۲	مینه یو تربله مونږه ټول په صداقت کوؤ	۴۵
۳۳	ګلونو ماشو مانو درته دا کوؤمه سوال	۴۶
۳۴	ا - ب - ت - ث - سبق دَ مدرسے	۴۷
۳۵	اوشو بچنګی باندے مِ خدا یه څهٔ فسات سات سات	۴۹
۳۶	نهٔ چا ته کنځل کوی نهٔ راخلی لوړے	۵۰
۳۷	ابئ زرشه لیندکه دا کړه مرغئ اولمه	۵۱
۳۸	لکه دَ ستوری به ځلیږم په آسمان کښی	۵۳
۳۹	زهٔ دَ خپل وطن سره به مینه محبت کوؤم	۵۴

Courtesy www.pdfbooksfree.pk

شمارہ	اولنی مصرعہ	ځ
۴۰	ئی ډکو شما لئے نہ شی ویښلے شی ینئی	۵۵
۴۱	نہ مونږ پہ سرک ودانئی دعا ټول کا روئہ	۵۶
۴۲	ستاسورا غلی پہ ډلو ډلو خطونہ	۵۷
۴۳	لاړشئی مدرسے تہ سبق ئی ورتا سو یا دکړی	۵۹
۴۴	دے ځلے خطا شوی چې ړشو نشا تو نہ	۶۰
۴۵	ډ خپل وطن بہ تل کوو مہ خدمتونہ	۶۱
۴۶	باجی لہ تا سرہ کوو مونږ ډ لوظونہ	۶۲
۴۷	ګلونو واؤ ړی یو څو خپرے	۶۳
۴۸	نہ ئی ستا سو مونږ یئہ	۶۴
۴۹	نہ ئی نیکلے شا هیئ یمہ اوسیږ مم ئی ګومړونو کښی	۶۵
۵۰	باچا نہ ئی ډ ځنګل یمہ مشهور پہ یہادر یئہ	۶۶
۵۱	نہ ئی ډ سرو ګانونو ډ ګاشن یو نبا پیړی یئہ	۶۷
۵۲	نہ ئی ستا سو با نګی یمہ پا سوم موډ و ختہ	۶۸
۵۳	پیغوا نی شوے مدا ړی سرہ ګرځیږ م	۶۹
۵۴	نہ ئی ټولہ شپہ ګرځیږ مہ خونئ یم نبا پیړک	۷۰
۵۵	واؤ ړی بچو واؤ ړی یو قیصئ دی تہ کوو مہ	۷۱
۵۶	دلتہ را غونډ شوی ډ سپر لو غږ تئی ګلونہ	۷۳
۵۷	ما تہ نجوم کښی ستوری وا ئی ټول حالونہ	۷۴
۵۸	ما دی دا دے ډیر ګلرے نہ ئی ګوډ ے	۷۵
۵۹	اے ما شومانو شئی کو رو کلے ۔	۷۶

Courtesy www.pdfbooksfree.pk

شمیره	اولنئ مصرعه	مخ
۶۰	ګرانه بابا جانه	۷۷
۶۱	په علم عقل چه ډیر بره اورسیږے	۹۰
۶۲	ګلونو ماشومانو خفه ګیږئ مانه څه له	۹۱
۶۳	ځئ چه ځو ملګرو وخت دَ کار دے نن	۹۲
۶۴	وُورکے شوے تیرے دَ غم	۹۳
۶۵	په ډیره مینه ستاکوویه مونږ ساتنه	۹۵
۶۶	اِلٰهی مالره علِم مکمّل را	۹۶

PAKISTAN VIRTUAL LIBRARY
www.pdfbooksfree.pk

Courtesy www.pdfbooksfree.pk

دَ هغې

ستورو

په نوم چې قافلې پرې خپل منزل

ته رسی

Courtesy www.pdfbooksfree.pk

سَرِیزه

ماشومان ګُلونه دی - بے ضَرَره، بے اَزغو ګُلونه.

هسے خو ګُلونه پلاستمکی هم وی، کاغذی هم او په رنګونو رنګ شوی ګُلونه هم.

خو زما مطلب دَ هغے ګُلونو نه دے، کوم چه په باغونو او چمنونو کښ راتوکیږی او ګُل کیږی. او یا چرته په مات کو دی کښ لکه دَ ریحان بیا وران کنډر کښ لکه دَ زیږ ګُلی او جماعے په شان، یا خو شے میره کښ لکه دَ ریدی ګُل او غانتمول په شاتے زرغونیږی او رژیږی.

رښتیا خبره دا ده چه دَ کومو بوټو په صحی ډول خصمانه او شی نو هغه نهٔ یواځے په خپله ښکلا او خوشبوئی ټول چار پیر چل ښائسته کړی بلکه دَ چاپتمکی یا دَ جانان په تور وڅنړو کښ ځائے هم بیا مومی.

دغسے ماشومان هم چه زلمی شی نو رنګ رنګ ذمه وارئ ورپغاړه شی او دَ یوے معاشرے شکل اختیار کړی. د دے معاشرے ښهٔ والے یا بد والے د ماشومانو په تربیت اَډ انړه لری. خو دَ بده مرغه مونږ ماشومانو ته هغه هومره توجه نهٔ ورکوو څومره چه پکار ده. ماشومان مینه غواړی

Courtesy www.pdfbooksfree.pk

ښود نه غواړی او هغه څۀ غواړی په څۀ کښې چه د هغه د صبا د
خوشحالو زیږی پټ وی. غم دوران مشران دومره نا قلاره کړی دی چه
کشران یې هیر کړی دی. نۀ چرے مدرسے ته سرور ښکاره کوی چه
او کوری چه ماشوم یې مدرسے ته راغلے دے او که نه؟ سبق کښې څنګه دے
د مدرسے نه پټیږی خو نه - ماشوم ته څۀ تکلیف خو نشته.

په ښارونو کښې ماشومانو ته کور کښې د تربیت نه علاوه د سبق رواج
عام دے خو کلو کښې مور پلار ماشوم ته کور کښې څۀ خاص خیال نۀ ساتی نۀ د
هغۀ سبق ته او نۀ یې تربیت ته - ځکه د کلو اکثر ماشومان خپلو اکه شی او
خپلے فیصلے په خپله شروع کړی. نتیجه یې دا شی چه اکثر ماشومان د اتم پاس
د کولو نه مخکښې مخکښې سبق پریږدی او یواځے سبق پریږنۀ دی کلے ورسره هم
پریږدی او بیا کلی ته هله واپس راشی چه د سبق وخت پرے تیر وی.

زما د دے کتاب د نظمونو مقصد ماشومانو ته په نظمونو کښې د سبق
او وخت قدر، د ګوانډی قدر او برتګ ښودنے دی. خدا یې د او کړی چه ماشومان
نۀ یواځے دا کتاب په مینه مینه او وائی بلکه د دے خوندور نظمونه یاد هم کړی.

په آخر کښې زۀ د پاکستان ټیلی ویژن کارپوریشن پېښور مرکز بالخصوص
د ارورادین آفریدی پروډیوسر مشکوریم چه په اپریل ۱۹۸۹ء کښې چه پاکستان
ټیلی ویژن د بچو د پروګرام ابتداء کوله نو د دے پروګرام لیک ما ته حواله شو
په شروع کښې د دے پروګرام نوم "غنچه" وو او د دے پروګرام اولنۍ کمپیئر
نازلی سردار وه.

Courtesy www.pdfbooksfree.pk

زۀ دَ هغے ټولو دوستانو اؤ ملګرو شکریه ادا کؤل ضروری ګڼړ
چه ددے کتاب په چاپ کولو کښې یې زما ډاډګیر نه کړیده.
زۀ دَ حضرت شاه کاتب هم مشکوریم چه هغه په ډیره مینه اؤ اخلا
سوه ددے کتاب کتابت سرته اورسؤلو۔

والسلام

ستاسو
خالقداد اُمید
پېښور

۳ر مارچ ۱۹۹۶ء

Courtesy www.pdfbooksfree.pk

دُعَا

ستا په درګاه کښې لویه خدایه زهٔ دا سوال کوومه
دَ ژوند خوشحال کوومه، دَ ورور ولئ

زهٔ اتحاد او ورور وَلی په صداقت غواړمه
چه یوله بله لوګے کیږ و محبت غواړمه
لکه دَ غر په شان ولاړ ټینګ په غیرت غواړمه
تل په زارئ یم دا دُعا ستا ذوالجلال کوومه
دَ ژوند خوشحال کوومه، دَ ورور ولئ

هغه ژوند څهٔ دے چه یو بل سره نفاق سره وی
یا مئین زړونه چه جُدا وی په فراق سره وی
خوند هغه ژوند کړی چه یو ځائے په اتفاق سره وی
زهٔ دَ هر چا سره به مینه ډیر په خیال کوومه
دَ ژوند خوشحال کوومه دَ ورور ولئ

لکه پتنګ غوندے چه زار شمه دَ بل دَ پاره
لوګے لوګے شم هر چرے دَ پردی خپل دَ پاره
ژوند صدقه شه زما ټول دَ ړوند اؤشَل دَ پاره
زهٔ به پالنه دَ وطن تل په هر حال کوومه
دَ ژوند خوشحال کوومه دَ ورور ولئ

Courtesy www.pdfbooksfree.pk

خپلہ ورشو خپل موو طن دے

دا موسیالی دا سوکالی دا موکلتن دے
خپلہ ورشو خپل مو و طن دے
پہ آلا ھو کښے راتہ مور
ویلے بچیہ! دا دِ ے کور
ھر اُو سید ونکے کنڑہ ورور
مونږہ جوړ کړے پہ سرو وینو دبلن دے
خپلہ ورشو خپل مو وطن دے
تہ مو دَمہ تہ مو آرام
یے ننگ غیرت زمونږ دَقام
خدایے دِ آباد لرہ مُدام
دَ خپلہ ځانہ زیات پہ تاھر څوک مئین دے
خپلہ ورشو خپل مو وطن دے

پښیرلہ تا نہ بہ زہ څہ شمہ
ھیڅ بہ ھم نہ شم کہ پیرځہ شمہ
وطنہ! ستا دکہ چرے نہ شمہ
ستا پہ غیرت موقربان کړے مال وتن دے
خپلہ ورشو خپل مو وطن دے

Courtesy www.pdfbooksfree.pk

زمونږ گران وطن

زۀ به ترے زاریږم ماګټلے په مړانه دے
دا زما وطن دے په ما ګران له خپله ځانه دے

ملک مے پاکستان دے زۀ کوومه به ئے خدمت
دا زما وطن دے زۀ کوومه پرے غیرت
نزدے به ورته نۀ شی کۀ غلیم لری طاقت
دا زما عزت دے ما ته ګران لـه هره چانه دے
دا زما وطن دے په ما ګران له خپله ځانه دے

زۀ یو دَ فیرنګ بل دَ هندو ځنے نالان وُمه
ځکه تیغ ویستلے نۀ په مال اؤ نۀ په ځان وُمه
ډیر وُوم په کوشش کښے اَرمانی دَ پاکستان وُمه
شو مونږه آزاد اَلله په مونږه مهربانه دے
دا زما وطن دے په ما ګران له خپله ځانه دے

Courtesy www.pdfbooksfree.pk

واړه یُو یُو ورونړه تل د یو بله زا ریږو مونږ
څهٔ کهٔ پیښور یا کراچۍ ښهر کښے او سیږو مونږ
هسے بد خوا هانو ته جدا جدا ښکا ریږو مونږ
مونږه یُو یُو موټے دُشمن ځکه سرګردانه دے
دا زما وطن دے په ماګران له خپله ځانه دے

دلته کښے شنهٔ غرو نه په لمنو کښے یئے کلی دی
ارتے میرے لوئے ورشوګانے څومره ښکلی دی
وُنو بُوټو واړو ښے میوے خوږے نیولی دی
دا زما وطن په هر یُو څیز باندے پریمانه دے
دا زما وطن دے په ماګران له خپله ځانه دے

زهٔ په ډیره مینه د دے خپل وطن خدمت کووم
زهٔ یو ننګیالے یم د وطن به حفاظت کووم
زهٔ په پاکه خاوره به مدام ننګ و غیرت کووم
ملک لکه سپوږمۍ زما په ستورو کښے روښانه دے
دا زما وطن دے په ماګران له خپله ځانه دے

Courtesy www.pdfbooksfree.pk

وطن ته

زهٔ ستا په سر سیالی کومه اے زما وطنه
تل پسرلے دِ وی په تا و طنه؛
دلته پیدا ستا په لمن کښے رنګ په رنګ ګلونه
د لوړ همّت د شجاعت اؤ هم د ننګ ګلونه
دا تو کید لی د غیرت دا ځنګ په ځنګ ګلونه
تلدِ سمسور وی رنګا رنګ ګلونه ستا و طنه؛
تل پسرلے دِ وی په تا وطنه؛
دا دریا بونه په ګډا ګډا بهیږی هر ځائے
د خوشحالئے نه سرښئے دلته کښے چغیږی هر ځائے
په نری باد د ګلو ځانګے دا رپیږی هر ځائے
ملک معطر دے چه نظر کړمه هر خوا وطنه
تل پسرلے دِ وی په تا وطنه

Courtesy www.pdfbooksfree.pk

واړه یُو یُو ورونړه تل د یو بله زا ریږو مونږ
څهٔ کهٔ پیښور یا کراچۍ ښهر کښې او سیږو مونږ
هسے بد خوا هانو ته جدا جدا ښکا ریږو مونږ
مونږه یُو یُو موټے دُشمن ځکه سرګردانه دے
دا زما وطن دے په ماګران له خپله ځانه دے

دلته کښې شنهٔ غرو نه په لمنو کښې یې کلی دی
ارتے میرے لوئے ورشوګانے څومره ښکلی دی
وُنو بُوټو واړو ښے میوے خوږے نیولی دی
دا زما وطن په هر یُو څیز باندے پریمانه دے
دا زما وطن دے په ماګران له خپله ځانه دے

زهٔ په ډیره مینه د دے خپل وطن خدمت کووم
زهٔ یو ننګیالے یم د وطن به حفاظت کووم
زهٔ په پاکه خاوره به مدام ننګ و غیرت کووم
ملک لکه سپوږمۍ زما په ستورو کښې روښانه دے
دا زما وطن دے په ماګران له خپله ځانه دے

Courtesy www.pdfbooksfree.pk

وطن ته

زهٔ ستا په سر سیالی کومه اے زما وطنه
تل پسرلے دِ وی په تا وطنه!
دلته پیدا ستا په لمن کښے رنګ په رنګ ګلونه
دَ لوړ همّت دَ شجاعت اؤ هم دَ ننګ ګلونه
راټوکیدلی دَ غیرت دا څنګ په څنګ ګلونه
تل دِ سمسور وی رنګارنګ ګلونه ستا وطنه!
تل پسرلے دِ وی په تا وطنه!
دی دریا بونه په ګډا ګډا بهیږی هر ځائے
دَ خوشحالئے نه سرغئے دلته کښے چغیږی هر ځائے
په نری باد دَ ګلو څانګے دی رپیږی هر ځائے
ملک معطر دے چه نظر کړمه هر خوا وطنه
تل پسرلے دِ وی په تا وطنه

Courtesy www.pdfbooksfree.pk

کانړے کو تکانړے به ستا غیرو لره ورنۀ کړمه
په بدله کښے به ئے قبول دُروکو هرنۀ کړمه
یوه ذرّه به دِ بدله په سرۀ زر نۀ کړمه
دائم اقرار دے یو پوتے مۀ کړه سودا وطنه
تل پسرلے دِ دی په تا وطنه!

په اوبۀ غور دَ خپلو وینو گلستان کړلے ما
په قربانئ دَ سرومال تۀ پاکستان کړلے ما
لکه دَ نمرغوندے بنکاره په درست جهان کړلے ما
خدائے دِ آباد لره همُا دَ تمنّا وطنه!
تل پسرلے دِ دی په تا وطنه!

Courtesy www.pdfbooksfree.pk

ځئ چه مینه مینه شو

ځئ چه رایو ځایئ شو جوړ دَ مینے یو دیوال شو
سیورے په هرچا شو بے منته بے دَ سوا له
ځئ چه رایو ځایئ شو دَ تنظیم په لار روان شو
موټے شو راخوفډ شو لکه ټول یو خاندان شو
ځئ چه غم شریک کړو دَ یو بل خوشحالی خپله کړو
ځئ چه هره سخته کښے له یو بله قربان شو
ځئ دَ ورورولئ په لار روان په استقلال شو
ځئ چه رایو ځایئ شو جوړ دَ مینے یو دیوال شو
سیورے په هرچا شو بے منته بے دَ سوا له
ځئ چه لوږه لرے کړو هر څوک په ګیډه موړ کړو
ځئ چه هر رنځور له دَ خپل ځانه دارو جوړ کړو
ځئ چه دَ کمزورو غریبانو دلاسه شو مونږ
ځان سره ملګرے لوئے وړو کے ځوان اَوْ زوړ کړو
ځئ چه هرے سختے له په شانِ دَ یو ډال شو
ځئ چه رایو ځایئ شو جوړ د مینے یو دیوال شو
سیورے په هرچا شو بے منته بے دَ سوا له

Courtesy www.pdfbooksfree.pk

ځئ چه ټول ګلونه شو ښا ئسته په ځان چمن کړو مونږ
ځئ چه ځان نه لرے هر یو بد بوټے ازغن کړو مونږ
ځئ چه په فضا کښے یو نعره دَ ورور وَلئ شو ټول
ځئ چه پرون هیر کړو ځان سره فکر دَ نن کړو مونږ
ځئ چه ګمراهانو ته دَ لارے بل مثال شو
ځئ چه رایو ځائے شو جوړ دَ مینے یو دیوال شو
سیورے په هر چا شو بے منته بے دَ سوا له

Courtesy www.pdfbooksfree.pk

ښکلے چمن زما

ملک م یو گلشن دے پکښے رنګ په رنګ ګلونه
کیږی صفتونه هر ځائے م د وطن
دا ښکلے ګلشن زما زهٔ لکه بورا یمه
نه رښتیا بورا څهٔ وی زهٔ خادم ادنیٰ یمه
زهٔ لکه مالی به ئے کومه خدمتونه
کیږی صفتونه هر ځائے م د وطن
دا وطن ګلشن زما زهٔ لکه مالیار یمه
نه رښتیا مالیار څهٔ وی زهٔ ئے ټول واکدار یمه
اوری هر چرے پرے له هر لوری رحمتونه
کیږی صفتونه هر ځائے م د وطن
ملک م لکه شمع دے زهٔ ئے یو پتنګ یمه
نه رښتیا پتنګ څهٔ وی زهٔ فانوس رنګ رنګ یمه
زهٔ د ملک د پاره به قربان کړم راحتونه
کیږی صفتونه هر ځائے م د وطن
خدائے را عطا کړی څهٔ بے شانه نعمتونه
کیږی صفتونه هر ځائے م د وطن

Courtesy www.pdfbooksfree.pk

ښکلے م وطن دے

ښکلے دے وطن زما دَ هرچانه دے ګران په ما
دا دَ رب احسان په ما، دا دَ رب احسان په ما

شکر دے آزادیمه دا مے لکه کور
هر سړے خپل ورور ګڼم سپینې دے کړیا تور
هر څوک ئے خدمت کوی پلے کهٔ سور

نهٔ شی څهٔ کولے څهٔ دَ هېڅ قسم طوفان په ما
دا دَ رب احسان په ما، دا دَ رب احسان په ما

زهٔ به دَ دے خپل وطن شپه او ورځ خدمت کوُوم
څوک چه ئے خدمت کوی زهٔ به ئے عزت کوُوم
ژوند دَ خوشحالۍ زما خوب زهٔ دَ راحت کوُوم
څوک چرے او نهٔ کړی دَ کمزوری هېڅ ګمان په ما
دا دَ رب احسان په ما، دا دَ رب احسان په ما

Courtesy www.pdfbooksfree.pk

په هر محاذ به زه جنګیږم

۷ ستمبر ۱۹۹۰ء

په هر محاذ به زهٔ جنګیږم د ښمنا نو سره
نهٔ به ویریږمه دَ چانه، تل به جنګیږم ظالمانو سره

په هر محاذ به کوم جنګ — په خپل وطن به کوم تنګ
دښمن به تیښته کوی ما نه — آوری دَ تورے چه م شرنګ
زهٔ لو بیدلے یم مدام دَ شاهینانو سره
نهٔ به ویریږمه دَ چانه، تل به جنګیږم ظالمانو سره

نن که ما شوم چاته ښکاریږم — صبا که خیری به لوئیږم
څه که په هر ځائے کښے اوسیږم — دَ خپل وطن نه به زاریږم
دَ وطن ګټه مدام کیږی په ځوانانو سره
نهٔ به ویریږمه دَ چانه، تل به جنګیږم ظالمانو سره

هغه قام ټولو کښے اوچت دے — چا په وطن کړے غیرت دے
وطن یے هله سلامت شی — چه قبول کړے یے شهادت دے
په هره سخته به ولاړیم وطنیانو سره
نهٔ به ویریږمه دَ چانه، تل به جنګیږم ظالمانو سره

Courtesy www.pdfbooksfree.pk

مینه دَ وطن سره

زهٔ به په څرنګے دَ دے خپل وطن پکار شم
روان په کومه لار شم دا کوم سوچو نه

کله ویم شاهین شوے آلوتلے آسمانونو کښے
کله ویم سپاهی شوے جنګیدلے میدانونو کښے
کله ویم ډاکټر وے شوے میشته هسپتالونو کښے
یا شوے مهتمم مدام په غم وے دسړکونو کښے

چرته زهٔ نوکر شم په کوم مَدْ کښے په روزګار شم
روان په کومه لار شم، دا کوم سوچو نه

یا ویمه بابو شوے دَ مشین غوندِ روان شولے
یا شوے ټیکیدار وطن مِ ټول ودان ودان شولے
یا ویمه استاذ شوے ښهٔ قابل مِ شاګردان شولے
یا په زراعت کښے ددے خپل وطن دهقان شولے

څنګه به اے خدایه! دَ دے خپل چمن مالیار شم
روان په کومه لار شم، دا کوم سوچو نه

کله ویم دَ مال زهٔ په دے سیمه تحصیلدار شولے
ورک مِ غل غدو کړے زهٔ یا داسے تا نړیدار شولے
جج شولے منصف شوے مشهور په انصاف دار شولے
زهٔ عظیم انسان په ښوا خلاقو په کردار شولے

زهٔ به په کوم حال دَ عاجزانو مددګار شم
روان په کومه لار شم، دا کوم سوچو نه

Courtesy www.pdfbooksfree.pk

۱۸ اگست ۱۹۹۰ء

داسے خوشحالہ یمہ پہ خپل وطن کښے

لکہ گلونہ چہ ښائستہ ښکاری چمن کښے
داسے خوشحالہ یمہ، داسے خوشحالہ یمہ پہ خپل وطن کښے

پہ خپل وطن باندے نازیږم پہ ھر تکلیف یئے خفہ کیږم
لکہ رشتہ چہ وی پہ روح او پہ بدن کښے
داسے خوشحالہ یمہ، داسے خوشحالہ یمہ پہ خپل وطن کښے

زما وطن گلو گلزار دے ھر څوک ددے سیمے مالیار دے
کومہ ښکلا چہ دَہ دَدے بوټي از غن کښے
داسے خوشحالہ یمہ، داسے خوشحالہ یمہ پہ خپل وطن کښے

لنگ پہ وطن زما ایمان دے دَ خپلہ ځانہ راتہ گران دے
لکہ چہ وینہ م تودہ گرځي بدن کښے
داسے خوشحالہ یمہ، داسے خوشحالہ یمہ پہ خپل وطن کښے

Courtesy www.pdfbooksfree.pk

خپله خاؤره

په خپله خاؤره دَ وطن مونږه نازیږو
له یو بله زاریږو دا زمونږ وطن دے، دا زمونږ وطن دے

کوؤ دَ یو بل سره مینه
هر خبره کوؤ سپینه
دَ وطن خاؤره موشیرینه

لکه کلئ به په هر ځائے ګلونه کیږو
له یو بله زاریږو دا زمونږ وطن دے، دا زمونږ وطن دے

کړو به یو بل سره امداد
خپله ورشو خپل موهیواد
کړو هر دُ ښمن به نامراد

په زیان تاوان دَ خپل وطن مونږ خفه کیږو
له یو بله زاریږو دا زمونږ وطن دے، دا زمونږ وطن دے

دا موسیالی دا موخپل ځان دے
له خپله ځانه په مونږ ګران دے
دا زمونږ ځائے بس دَ آمان دے

په ډیره مینه ورور ولئ دلته اوسیږو
له یو بله زاریږو دا زمونږ وطن دے، دا زمونږ وطن دے

Courtesy www.pdfbooksfree.pk

زما وَطنه گرانه

څومره په ما گران ئے راته خوږ ئے له هرچانه
اے وطنه گرانه!

اے زما وطنه! زهٔ به ستا ساتمه خیال
یئے چه تهٔ آباد نوزهٔ به هم یئمه خوشحال
تا به کړم وطنه! دَ ملکونو سره سیال
کړمَ حفاظت به ستا په مینه په مړانه
اے وطنه گرانه!

هیله به چرے او نکړم وطنه! په خپل سر
له تا نه به قربان کړمه خپل تن او مال وزر
محکم به حفاظت ستا ولاړ یم لکه غر
دُشمن په خپلو کړو باندِ به ډیر کړمه ستومانه
اے وطنه گرانه!

ستا غیږه کښے لوئے شوے زهٔ نسے دَ ننگیالو یئمه
ویره له چا نکړم چه پیدا له توریالو یئمه
بر په هر میدان کښے دَ دُښمن په جنگیالو یئمه
توره چه راواخلم شی دُشمن م سر گردانه
اے وطنه گرانه

Courtesy www.pdfbooksfree.pk

یُو دَیُو لاس ګوتے کہ پښتون دے کہ سندھے دے
یا کہٴ پنجابے دے دَ پنجاب کہ بلوچے دے
هر یو ستا پہ مینہ پہ رشیتا ورک لیونے دے
څوک چہ درتہ سپک ګوری شی سپک دِ دَ هر چا نہ
اے وطنہ ګرانہ!
ازغے بہ دَ وطن پہ پردی ګُل نہٴ کړم بدل
لعلو تہ بہ دَ بل کړمہ قربان لہ خارہ خپل
خوږے نغمے اُمیّد بہ دِ لیکمہ زہٴ ترتل
پسرلی دِ پہ تاتل وی اوسے بچ لہ هر خزانہ
اے وطنہ ګرانہ!

Courtesy www.pdfbooksfree.pk

وطنه لوظ دے

ستا په عظمت باندے به سرومال شیند مه
وطنه! لوظ دے زهٔ حفاظت به ستا کوومه

زهٔ به کوم ستا حفاظت
ما سره یئ تهٔ امانت
چه وی ترڅو ما کښے طاقت
په ډیره مینه به کوُو مه ستا پالنه
وطنه! لوظ دے زهٔ حفاظت به ستا کوُومه

ستا په عظمت باندے به سرو مال شیند مه
وطنه! لوظ دے زهٔ حفاظت به ستا کوومه

تل دے پناه ستا بدخواهان شی
پوره نه ما دے هر آرمان شی
لرے له تا دے هر طوفان شی
زهٔ تل آستوکنه به کوم ستا په لمنه
وطنه! لوظ دے زهٔ حفاظت به ستا کوومه

ستا په عظمت باندے به سرومال شیند مه
وطنه! لوظ دے زهٔ حفاظت به ستا کوومه

Courtesy www.pdfbooksfree.pk

زۀ بہ کوم ستا احترام
پہ تا اوچت دے زما نام
تۀ م ارمان وے دَتول قام
دَ بدوسترگو بہ ساتم تالہ دښمنہ
وطنہ! لوظ دے زۀ حفاظت بہ ستا کوومہ
ستا پہ عظمت باندے بہ سرومال شیندمہ
وطنہ! لوظ دے زۀ حفاظت بہ ستا کوومہ
درتہ بہ پرے نۀ ږدم زاغان
وطنہ! یئے جنّت نشان
خدا یئے دے ساتہ تل پہ امان
دغہ دُعا بہ تل کوی ستا ھر خوږمنہ
وطنہ! لوظ دے زۀ حفاظت بہ ستا کومہ
ستا پہ عظمت باندے پہ سرومال شیندمہ
وطنہ لوظ دے زۀ حفاظت بہ ستا کوومہ

Courtesy www.pdfbooksfree.pk

ښکلے دے وطن زما

ځان به ترے لوګے کړم دَ خپل ځانه په ماګران دے
دا زما وطن دے ډیر په ما دَ رب احسان دے

ښکلے دے وطن زما ښکلے دے مسکن زما
دا دَ زړهٔ قرار زما دا تسکین دَ تن زما
دا زما دَ پاره دَ سرو ګلو ګلستان دے
ځان به ترے لوګے کړم دَ خپل ځانه په ماګران دے

څه ښکلی سیند ونه دی هر خواشینکی غرونه دی
شاړے اوس آبادے دی هر ځائے چمنونه دی
ګټه زما خپله ده هم خپل زما تاوان دے
ځان به ترے لوګے کړم دَ خپل ځانه په ماګران دے

ډیر پرے خوشحالیږ مه ډیر پرے زهٔ نازیږ مه
دا یوه سیالی زما زهٔ به ترے زاریږ مه
دا پیژندګلو م ده زما نام و نشان دے
ځان به ترے لوګے کړم دَ خپل ځانه په ماګران دے

پیښور- ۱۷ر جون ۱۹۷۷ء

Courtesy www.pdfbooksfree.pk

۸ اکتوبر ۱۹۹۰ء

پسرلی راولئ

ګلونه اوکړئ همزولو پسرلی راولئ
یو خوشحالی راولئ په هر یؤ لوری
همزولو اوکړئ ګلونه
راولئ هر خوا بهارونه
چه کړی طوطیان پکښے سیلونه
هر خوا ته مینه محبت اؤ وروړولی راولئ
یو خوشحالی راولئ په هر یو لوری
ملګرو! وایئ سبقونه
مهٔ کوئ برناحق جنګونه
کیږی په دے بیا ډیر خرڅونه
په عِلم عقل کښے ځانونه بریالی راولئ
یو خوشحالی راولئ په هر یو لوری
نهر په ګیډه باندے موړ کړئ
رنځور دارو سره ښهٔ جوړ کړئ
خوشحال وړوکے ځوان اؤ زوړ کړئ
نورو قامونو سره هر څهٔ کښے سیالی راولئ
یو خوشحالی راولئ په هر یؤ لوری

Courtesy www.pdfbooksfree.pk

دَ وَطن گُلونَه

مدام سپرلے دِ وی په تاسو دَ وطن گلونو
دَ دے چمن گلونو دَ دے چمن
ترو تازه اوسئ ددے بنکلی گُلشن گلونو
دَ دے چمن گلونو دَ دے چمن

مدام دِ دلته کښے سپرلے وی دَ خوشحالو دِ هر کلے وی
چه پکښے اوسئ لکه روح اؤ دَ بدن گلونو
دَ دے چمن گلونو دَ دے چمن

په تاسو رامۀ شه خزان خدائے موساته په خپل آمان
شه مورا و پلار ستا سو مارۀ ښۀ په دیدن گلونو
دَ دے چمن گلونو دَ دے چمن

شئ په دُنیا کښے ښۀ نیک نام اوګټئ نوم چه دَ خپل قام
شئ دهر ښمن لره په شانے دَ ازغن گلونو
دَ دے چمن گلونو دَ دے چمن
مدام سپرلے دِ وی په تاسو دَ وطن گلونو
دَ دے چمن گلونو دَ دے چمن

Courtesy www.pdfbooksfree.pk

په ښهٔ نامه یادیږی

وطن مو لکه ستورے و طنو نو کښے ځلیږی
په ښهٔ نامه یادیږی په ښهٔ نامه یادیږی
داز مونږ وطن دے کوؤ فخر پرے مدام
داز مونږ عزت دے کړو عظمت ته ئے سلام
مخ په ترقئ ځی ډیر په بره به رسیږی
په ښهٔ نامه یادیږی، په ښهٔ نامه یادیږی
مونږه به سبق وایو سبق یوه رنړاده
مونږه سره مل هر وخت دَ مور وپلار دعاده
باران دَ خوشحالئ به تل په مونږ باندے وریږی
په ښهٔ نامه یادیږی په ښه نامه یادیږی
مونږه په راستئ سره کو وبه ئے خدمت
داز مونږ وطن دے مونږ کو وبه پرے غیرت
مونږه چه لوئیږو را سره به دے لوئیږی
په ښهٔ نامه یادیږی په ښهٔ نامه یادیږی

۲۸، ستمبر ۱۹۹۰ء

Courtesy www.pdfbooksfree.pk

۱۴ اپریل ۱۹۹۰ء

په مونږه ګران وَطنه!

تهٔ مو ښائست تهٔ خوشحالی تهٔ مو آرمان وطنه
په مونږه ګران وطنه!
زمونږ وطنه! په مونږ ګرانه
په هر نعمت باندے پریمانه
اوسے تهٔ بچ له هر خزانه
په تا نازیږو اے زمونږه ګلستان وَطنه
په مونږه ګران وطنه!
په تا به کړو وطنه! ننګ
هیر به دِ نکړو په هیڅ رنګ
یُو به ولاړ ټول څنګ په څنګ
شو به لوګے در نه زمونږ جنت نشان وطنه
په مونږه ګران وطنه!
ستادے عظمت ته کړو سلام
تهٔ مو دَمه تهٔ مو آرام
یئے تهٔ غیرت مو دَ ټول قام
د هر آفت نه دِ ساته خدائے په آمان وطنه
په مونږه ګران وطنه!

Courtesy www.pdfbooksfree.pk

۱۷ اگست ۱۹۹۰ء

وطن

دا زمونږ وطن دے مونږ له دے نه به زاریږو
مونږ به را لوئیږو دا زمونږ وطن دے

مونږ لکه مالیار غوندے به دا وطن ودان کړو
مونږ به په خوږ ومیوؤ هر بُوټے پریمان کړو
پوئے په خوشحالو دَ ژوندانه به هر انسان کړو
مونږ لکه یؤ موټے به په یؤ ځائے کښے اوسیږو
مونږ به را لوئیږو دا زمونږ وطن دے

مونږ به دَ بل حق همیشه داسے لکه خپل گڼړو
مونږ ه خوار غریب به لکه ورور په شانے تل گڼړو
مونږ ه به قابل همزولی بس دَ لارے مَل گڼړو
تل په هره سخته به دَ یؤ بل پکاریږو
مونږ به را لوئیږو دا زمونږ وطن دے

مونږ ته دَ آدے اؤ دَ بابه ډیر آرمانونه دی
زمونږ ه خوشحالوله ئے تیر کړی تکلیفونه دی
مونږ ته په دُعا ئے شپه اؤ ورځ اوچت لاسونه دی
مونږ به په همّت بره آسمان ته اورسیږو
مونږ به را لوئیږو دا زمونږ وطن دے

Courtesy www.pdfbooksfree.pk

وطن م آبادیږی

هرخوا نه پلوشے دَ ودانئ په ملک خوریږی
وطن م آبادیږی

دا زما وطن دے ماجوړ کړے په سرو وینو دے
دا زما عزت دے دا مدفن م دَ نیکو نو دے
دا زما ناموس دے ماته ګران دَ سرو لعلو نو دے
منعه به یئے نهٔ کړم که م سرترے قربانیږی
وطن م آبادیږی

دا زما وطن دے دا زما دَ مینے کور دے
دلته فرق نشته که څوک سپین دے که څوک تور دے
دلته هرسړے په بل مئین لکه دَ ورور دے
په زغل دَ ودانئ کښے یو تر بله مخکښے کیږی
وطن م آبادیږی

دا زما وطن دے سرومال به ترینه زار کړمه!
زهٔ دَ زړهٔ په وینو به داخپل وطن ګلزار کړمه
زهٔ له بدو سترګو نه به دا بچ له آغیار کړمه
وطن م په دُنیا کښے لکه نمر به اُو ځلیږی
وطن م آبادیږی

(په شکریه پریس انفارمیشن)

Courtesy www.pdfbooksfree.pk

ښکلے وطن دے زمونږ

۲۶ ستمبر ۱۹۹۰ء

دا ګلونه دی زمونږ دا چمن دے زمونږ
دا سیندونه دی زمونږ دا ګلشن دے زمونږ
دا دَ هرچا نه ښائسته ښکلے وطن دے زمونږ
دا ګلونه چمنونه دا وطن دے زمونږ

دا یو کور دے زمونږ دَ زړهٔ ټکور دے زمونږ
پیښور که لاهور دے زمونږ دَ سترګو تور دے زمونږ
ښکلی غرونه دی زمونږ دا مسکن دے زمونږ
دا دَ هرچا نه ښائسته ښکلے وطن دے زمونږ
دا غیرت دے زمونږ ننګ اؤ پت دے زمونږ
دا عزت دے زمونږ شان شوکت دے زمونږ
هر دُ ښمن په هر ځائے مختورن دے زمونږ
دا دَ هرچا نه ښائسته ښکلے وطن دے زمونږ
دا پښتوده زمونږ دا ورشوده زمونږ
دا دُرخوده زمونږ دا زانګوده زمونږ
په مونږ ګران دا وطن په دے هر څوک مئین دے زمونږ
دا دَ هرچا نه ښائسته ښکلے وطن دے زمونږ

Courtesy www.pdfbooksfree.pk

زهٔ دَ چانه کم نهٔ یم

زهٔ دَ چا نه کم نهٔ یم خاوند دَ خپل هیواد ئیم
شکر دے آزاد ئیم

زهٔ یو مسلمان ئیم یارپه کل جهان ئیم
نرپښتون یادیږ مه زار له پاکستان ئیم
وتے له وطنه په نامه تل دَ جهاد ئیم
شکر دے آزاد ئیم

دلته کښے سیندونه شته ډیر ښکلی شنهٔ غرونه شته
اوس میرے آبادے دی نښهٔ ښکلی ښارونه شته
دا زما وطن دے زهٔ په خپل کالهٔ آباد ئیم
شکر دے آزاد ئیم

خپلے جهازونه دی توپے مشینونه دی
وائی دَ لروبر سپا هی کلک مو ایمانونه دی
څوک به راته ټینګ نهٔ شی موصوف زهٔ له اجداد یم
شکر دے آزاد ئیم

ما کښے شجاعت شته دے نښهٔ پوره همّت شته دے
سر به منع نهٔ کړمه ملک ته که حاجت شته دے
تیر دَ سرو ماله نهٔ په ګټه نهٔ بیلاد ئیم
شکر دے آزاد ئیم

Courtesy www.pdfbooksfree.pk

شاعراوماشومان

دا زما بچی دی یؤ تر بله به زاریږ ی
دوئ به را لوئیږ ی دا زما بچی دی

دا ے دی غوټئ دَ ګل زۀ به پرے نازیږ مه
دا دَ ګلو څانګے دی زۀ پرے خوشحالیږ مه
تل په هره سخته به دَیو په کاریږ ی
دوئ به را لوئیږ ی دا زما بچی دی

پوه دِ شی را لوئے دِ شی دغه دے ارمان زه
خدائے دِ چرے هیڅ نۀ کړی دغه دے تاوان زه
پریږ ده چه دُښمن ورته دَ لرے نه پسخیږ
دوئ به را لوئیږ ی دا زما بچی دی

Courtesy www.pdfbooksfree.pk

مینه دَ یو بل سره کړی به صداقت سره
کینه دَ دُشمن سره کړی به په غیرت سره
مئیندے سپیلنی غوندے به دوئ ته لوګے کیږی
دوئ به را لوئیږی دا زما بچي دی

ښکلی چه ګلونه وی ښکاری پرے ګلزار ښکلے
ښکلے وی چمن هغه وی چه یئ مالیار ښکلے
تږ دَ ودانئ کښے یو تر بله مخکښے کیږی
دوئ به را لوئیږی دا زما بچي دی

Courtesy www.pdfbooksfree.pk

۱۰ر اګست ۱۹۹۰ء

د وخت قدر

چه دَ وخت قدر نهٔ کوی نصیب ئے خوار دے
ژوندون ئے خوار و زار دے یقین اوکړئ ملګرو!

عمر دَ باد په شان تیریږی
هر څوک تیر وخت پسے ژړیږی
ملګرو! وروستو هیڅ نهٔ کیږی

نهٔ دے په زار نهٔ په زارئ چا ته ایسار دے
ژوندون ئے خوار و زار دے یقین اوکړئ ملګرو!

قدر چه چا کړے دَ وخت دے
تل را بیدار ئے او دهٔ بخت دے
کار دَ خوارئ منم چه سخت دے

تل په خوارئ سره هر یو چمن ګلزار دے
ژوندون ئے خوار و زار دے یقین اوکړئ ملګرو!

هغه قامونه سرفراز شو
پوهه دَ وخت چه څوک به راز شو
په ښو عهد و باندے ممتاز شو

قدر دَ وخت به ټول کوو دا مو اقرار دے
ژوندون ئے خوار و زار دے یقین اوکړئ ملګرو!

Courtesy www.pdfbooksfree.pk

راځئ ملګرو!

په هر تکلیف کښې به کوو سره لا سو نه
راځئ ملګرو! راځئ چه سره دا اوکړو لوظونه

دَ بل په غم به خفه کیږ و
په خوشحالو به ئے خوشحالیږ و
نهٔ به په خپلو کښې جنګیږ و
چه دَ یؤ بل سره شریک کړو خپل دړدونه
راځئ ملګرو! راځئ چه سره دا اوکړو لوظونه
هر یؤ کمزورے به اوچت کړو
ډیر به یئ قدر ډیر عزت کړو
دَ کبر جنو به نفرت کړو
دا سے بدل به کړو مونږ ټول خپل تکلیفونه
راځئ ملګرو! راځئ چه سره دا اوکړو لوظونه
سبق به نهٔ پریږدو هیچرے
نهٔ به دَ کوره اوځو لرے
خپله ورشو خپلے دؤ ترے
دَ ملک دپاره به قربان کړو راحتونه
راځئ ملګرو! راځئ چه سره دا اوکړو لوظونه

Courtesy www.pdfbooksfree.pk

اختر مو مبارک شه

په ډیره مینه درته وایو سلامونه
نیولی مولاسونه۔ اختر مو مبارک شه

دَ زړهٔ دَ تله وایو سلام په ډیر اخلاص ډیر احترام
زمونږ نصیب شه داسے ډیر ډیر اخترونه
نیولی مولاسونه۔ اختر مو مبارک شه

بلنے کیږی ورځ دَ اختر ده دا خوشحالی سمه په غر ده
راځئ چه واچوؤ په وُنو کښے ټالونه
نیولی مولاسونه، اختر مو مبارک شه

ملګرو اوسئ مدام خوشحال چرے هم نهٔ شئ تاسو ملال
لرے دَ زړهٔ نه کړئ نن واړه خفګانونه
نیولی مولاسونه، اختر مو مبارک شه

Courtesy www.pdfbooksfree.pk

روان په سمه لارشے

اے زما بچیه! دَ پرو خپلو په کارشے
روان په سمه لارشے دا کووم سوالونه

دا کووم سوالونه چه اَلله دِ راته لوئے کړه
ویم بچیه! خدائے دِ په هر عِلم هنرپوه کړه
تهٔ په حقیقت کښے دَ دے خپل وطن مالیارشے
روان په سمه لارشے دا کووم سوالونه

تل دَ یتیمانو سره مینه محبت کوه
اے زما بچیه! دَ غریبو ډیر عزت کوه
تهٔ دَ مشرکشر په هر ځائے کښے تابعدارشے
روان په سمه لارشے دا کووم سوالونه

اے زما بچیه! سبق وایه شه هوښیار
تل دَ دے چمن شه لکه وُنه میوه دار
تل دَ نیکو خلقو په ټولی بچیه! شمارشے
روان په سمه لارشے دا کووم سوالونه

۲۱ جولائی ۱۹۸۹ء

Courtesy www.pdfbooksfree.pk

باران دَ خوشحالئ

باران دَ خوشحالئ دِ مدام تاسو باندے اوری
پړقیږئ لکه ستوری او ځلیږئ لکه ستوری
کیمیا دَ علم عقل شئ گلونو ماشومانو
ښیگړه هر چرے شئ دَ غریبو دَ خوارانو
پکار شئ تل په سخته دَ پردو هم دَ خپلوانو
نصیب موشه مُدام دَ عقل فکر ښکلی سیوری
پړقیږئ لکه ستوری او ځلیږئ لکه ستوری
هر کار کوئ په خپله چه هم دے کښے برکت دے
خواری چه هر چا او کړه په نصیب کښے ئے راحت دے
دُنیا کښے نن صبا دَ خواری کښو ډیر عزت دے
ځئ او ولئ دا سختے تکلیفونه په بل لوری
پړقیږئ لکه ستوری او ځلیږئ لکه ستوری
مدام دَ کشر مشر په هر ځائے کښے کوئ خیال
هم داسے به په ژوند کښے مدام یئ تاسو خوشحال
الله دِ نه کړی چرے یو ذرّه چه شئ ملال
څادر دَ نیک نامئ دِ تل په تاسو باندے خوری
پړقیږئ لکه ستوری او ځلیږی لکه ستوری

(۱۵ اپریل ۱۹۹۰ء)

Courtesy www.pdfbooksfree.pk

په نمر کښې مهٔ ګرځئ

۲۵ مئی ۱۹۹۰ء

راځئ په سیوری چه اووایو سبقونه، همزولو
په نمر کښې مهٔ ګرځئ ګرمی ده
په نمر کښې مهٔ ګرځئ ګرمی ده
هسې عبث ضائع کوئ څهٔ له وختونه
په نمر کښې مهٔ ګرځئ ګرمی ده
په نمر کښې مهٔ ګرځئ ګرمی ده

دَ غرمې خوب کوئ مدام بس دغه وخت دے دَ آرام
یو بل سره کوئ ناکام په ښو اَخلاقو شئ نیک نام
چه په تیر وخت پسې بیا نهٔ کړئ ارمانونه، همزولو
په غرمه مهٔ ګرځئ ګرمی ده
په غرمه مهٔ ګرځئ ګرمی ده

Courtesy www.pdfbooksfree.pk

دَ سکول چُټیانو کښې کړئ کار چه شئ په عِلم ډیر هوښیار
ګورے چه کښې نه نئ اوزګار شی به نصیب مورا بیدار
دَ لارے مَل دے عمل اوکړئ ګلونه، همزولو
په نمر کښې مه ګرځئ ګرمی ده
په نمر کښې مه ګرځئ ګرمی ده

کچه میوے اونه خورئ چرے واؤرئ داڅو زما خبرے
مه ځئ دَ کوره چرته لرے بُوټو کښې ناستے وی ډمبرے
شی درنه پاتے به نیمګړی ټول کارونه، همزولو
په نمر کښې مه ګرځئ ګرمی ده
په نمر کښې مه ګرځئ ګرمی ده

Courtesy www.pdfbooksfree.pk

ډیر احترام کوومه دَ خپل استاذ

سحر چه پا سم اول مورپلار ته سلام کوومه
ډیر احترام کوومه دَ خپل استاذ

ویمه سبق په ډیره مینه
هره خبره کووم سپینه
هم دَ همزولو سره مینه اؤ ناکام کوومه
ډیر احترام کوومه دَ خپل استاذ

زۀ به گټمه ټهر میدان
نوم به مے رسی تر آسمان
په هره سخته کښے به خوار غریب ته پام کوومه
ډیر احترام کوومه دَ خپل استاذ

تل به کوومه پرے غیرت
دا مے ناموس دا مے عزت
په پاکه خاؤره دَ وطن به ننگ ونام کوومه
ډیر احترام کوومه دَ خپل استاذ

Courtesy www.pdfbooksfree.pk

هر یو زما ورور دے

ما په ډیره مینه ځان له دا جوړ کړے کور دے
هر یو زما ورور دے دلته چه اوسیږی
هر یو زما ورور دے دلته چه اوسیږی
سپین دے اوکهٔ تور دے ما ته یو ښکاریږی
پلے دے که سور دے یو ځائے به رسیږی
لاس کښے یئے قلم دے یا کهٔ چا اخستے لور دے
هر یو زما ورور دے دلته چه اوسیږی
غرونه که سیندونه دی هر څهٔ یو نعمت ګڼړم
یا چرته دشتونه دی واړه خپل دولت ګڼړم
بوټي کهٔ ګلونه دی، دا دَ زړهٔ راحت ګڼړم
شاړے دی آبادے فصل هر ځائے کښے سمسور دے
هر یو زما ورور دے دلته چه اوسیږی
اِیوه دَ بدل که ده یا کهٔ دا آشرے دی
چغه دَ غوبل کهٔ ده یا کهٔ اُو بهٔ خورے دی
دا دَ پردی خپل کهٔ ده ټولے یو دوترے دی
نهٔ څوک زور آور دے نهٔ څوک اوس پاتے کمزور دے
هر یو زما ورور دے دلته چه اوسیږی

Courtesy www.pdfbooksfree.pk

ورور ولی

مینه یو تر بله مونږ ه ټول په صداقت کوؤ
یؤ د بل عزت کوؤ، دا مو ورور ولی ده
دا اتحاد دا ورور ولی په صداقت اوګوره
چه یو له بله لوګے کیږو محبت اوګوره
لکه د غرغوندے ولاړ ټینګ په غیرت اوګوره
مونږ د کشر مشر په راستئ سره خدمت کوو
یو د بل عزت کوو، دا مو ورور ولی ده
هغه څه ژوند دے چه یو بل سره نفاق سره وی
یا مئین زړونه چه جدا وی په فراق سره وی
خوند هغه ژوند کړی چه یو ځائې په اتفاق سره وی
را دِ نه شی چرے هغه ورځ چه به نفرت کوؤ
یو د بل عزت کوؤ، دا مو ورور ولی ده
غمونه لاړل دی هر ځائے د خوشحالئ خبرے
کړی لوئے وړوکے هر چرے د ودانئ خبرے
دی حقیقت کښے دا زمونږ د سُکا لئے خبرے
تل په کونډو رنډو یتیمانو به شفقت کوؤ
یو د بل عزت کوؤ، دا مو ورور ولی ده

Courtesy www.pdfbooksfree.pk

ګاونډی

۴ جون ۱۹۹۱ء

ګلونو ماشومانو درته دا کوومه سوال
هرځایئ دَ ګاونډی به ګورے ډیر اوساتئے خیال

هیچرے ګاونډی ته ګورے اونهٔ ګورئ سپک
کومه دا خبره دَ کتاب مهٔ کوئ شک
کړئ لو بے لکه ورونړه درنه څوک نهٔ شی ملال
هرځایئ دَ ګاونډی به ګورے ډیر اوساتئے خیال

بچی دَ ګاونډی درنه چه نهٔ شی خفه چرے
چه بل پرے آزاریږی مهٔ کوئ هغه خبرے
کورونو نه چا پیره کړئ دَ مینے یو دیوال
هرځایئ دَ ګاونډی به ګورے ډیر اوساتئے خیال

یَئ تاسو حقیقت کښے سفیران دَ کور محلت
هم ستاسو په کوشش به مو کورونه شی جنت
اَلله دِ همّت درکړی چه ټول عمر یَئ خوشحال
هرځایئ دَ ګاونډی به ګورے ډیر اوساتئے خیال
ګلونو ماشومانو درته دا کوومه سوال

Courtesy www.pdfbooksfree.pk

ا - ب - ت - ث

ا - ب - ت - ث سبق دَ مدرسے

مونږ وایو بے پیسے سبق دَ مدرسے

مونږ ه ورونړه ورونړه یُو یؤ شانے موجامه ده

زمونږ په ښو اخلاقو هر ځائے یاده ښهٔ نامه ده

دَ مینے مو رشتے سبق دَ مدرسے

ا - ب - ت - ث سبق دَ مدرسے

مونږ به دَ اخلاص په سیوری یو ځائے کوؤ ژوند

مونږ په اتفاق چه یُو نو کړی به څو مره خوند

یو ځائے لکه تسبے سبق دَ مدرسے

ا - ب - ت - ث سبق دَ مدرسے

مونږ دَ دے وطنه به یو ښکلے ګلشن جوړ کړو

مونږ به خوار غریب نهر په ګیډه باندے موړ کړو

لرے دَ غم شپے سبق دَ مدرسے

ا - ب - ت - ث سبق دَ مدرسے

مونږ دا خپل وطن به دَ سیالانو سره سیال کړو

مونږ به هر خفه دلګیر په مینه ښهٔ خوشحال کړو

هر خوا ښکلے تخمے سبق دَ مدرسے

ا - ب - ت - ث سبق دَ مدرسے

Courtesy www.pdfbooksfree.pk

د نظرماتی سندره

او شو بچنګی باندے م خدایه! څه مات سات سات
دَ تور سترګو دَ شین سترګو نظرمات مات مات

بیا نظره شوید ے ډوډئ یئ زړهٔ ته نهٔ کیږی
چرته چه ټوپونه وی ترپکے زړهٔ یئ سنهٔ کیږی
ټکے سبق نهٔ وائی ورته هر ټکے دوه دوه کیږی
ګټه که یوه کوی پینځه کوی بائیلات لات لات
دَ تور سترګو دَ شین سترګو نظرمات مات، مات نظرمات مات مات

بیا په پکو ړو پسے دَ دهٔ ګوره ژبئ شوله
خُلهٔ یئ ټوله خوږ هسے په ډیره میټائئ شوله
دَ ګیډے نه یئ جوړه دوه منیز غټه بوجئ شوله
رسی هر یو کلی ته چه وی پکښے خیرات رات رات
دَ تور سترګو دَ شین سترګو نظرمات مات مات نظرمات مات مات

درسته ورځ غرمو کښے په مرغو پسے ګرځیږی
خوری کچه میوے ورته چه چرته ملا ویږی
دے لارو موټرو پسے وروستو باندهٔ کیږی
کله پوزه خوږ کله یئ پښے لاسونه مات مات مات
دَ تور سترګو دَ شین سترګو نظرمات مات مات نظرمات مات مات

Courtesy www.pdfbooksfree.pk

کیله

په څهٔ نه څهٔ باندے کړی دے دَ هرچا سره جګړه
مورے او ورورے کړی هر وختے ما سره جګړه

کله په قلم باندے کله په کتاب
کله مے لیکلے خط کړی راته خراب
اوّل کوی په ټوټو بیا رښتیا سره جګړه
مورے ورورے هر وختے کړی ما سره جګړه

زهٔ ویمه سبق مورے دے کړی راته شور
وخت چه دَ آرام راشی دے او ځی له کور
کله دَ غوټی کله سنډا سره جګړه
مورے ورورے هر وختے کړی ما سره جګړه

وئ بچے ګلا په دا کړے تهٔ څهٔ کارونه
ښکلی ماشومان چرے نهٔ کوی جنګونه
ټول شه مینه مینه مهٔ کړه چا سره جګړه
ښکلی ماشومان نهٔ کړی چا سره جګړه

مورے ورورے هر وختے کړی ما سره جګړه
بس دے او س به نهٔ کوی دے ستا سره جګړه

Courtesy www.pdfbooksfree.pk

ښکلی ماشومان چرے نۀ کوی جګړے

نۀ چا ته کنځل کوی نۀ را آخلی لوړے
ښکلی ماشومان چرے نۀ کوی جګړے

ښکلی ماشومان همیشه کړی محبت
کړی دَ مشرانو هر ځائے کښے عزت
تل تباه تباه دی قامونه په نفرت
وروستو وی ستو ما نه ګرځی سترګے خړے
ښکلی ماشومان چرے نۀ کوی جګړے

شی چه خاندان کښے په جنګ څوک ګرفتار
ځان سره جَل بَل کړی نور خلق په آنګار
ډیر بے ګناه خپل ئے شی دے کښے آزار
شی دَ خاندان نه دَ غم چا پیره لړے
ښکلی ماشومان چرے نۀ کوی جګړے

او کړئ تعلیم دا مقابله ده
یا ګلونو ګورئ دَ ژوند معامله ده
بس کړئ نورے پریږدئ چه هره مشغله ده
بے تعلیمه ګیر وی دَ جنګ په دے چقړے
ښکلی ماشومان چرے نۀ کوی جګړے

Courtesy www.pdfbooksfree.pk

اَبئی زرشه لینده راکړه

(ځوئے)

اَبئی زرشه لینده راکړه مرغئ اولمه
دَ مرغو ښکارله دَ ملګرو سره ځمه - مرغئ اولمه

(مور)

چپ شه بچے! چپ شه - دا نهٔ منمه
دَ بے زبانه مرغو ماخله آزارونه - دا نهٔ منمه

بچے! سبق مِ ستا آرمان دے
په خوشو تشو مِ خفګان دے
دے کښے زمونږ ښکاره تاوان دے
زهٔ خو داویمه چه اووائے سبقونه - دانهٔ منمه

(ځوئے)

اَبئی! زرشه لینده راکړه - مرغئ اوولمه
دَ مرغو ښکارله دَ ملګرو سره ځمه - مرغئ اوولمه

(مور)

چپ شه بچے! چپ شه - دا نهٔ منمه
دَ بے زبانه مرغو ماخله آزارونه - دانهٔ منمه
زهٔ خو داویم چه غټ اَفسر شے
هر ځائے ښکاره لکه دَ نمر شے

Courtesy www.pdfbooksfree.pk

خپلو همزو کښې بهتر شے
چه په هر ځائے کښې دِ بیا کیږی صفتونه۔ دانهٔ منمه

(ځوئے)

اَبئی! زرشه لیندہ راکړه ۔ مرغئ اوولمه
دَ مرغو ښکارله دَ ملګرو سره ځمه۔ مرغئ اوولمه

(مور)

چپ شه بچے چپ شه۔ دا نهٔ منمه
دَ بے زبانه مرغو ماخله آزارونه۔ دانهٔ منمه
لو بے کوه خو په یو وخت
چه دِ بیدارشی اودهٔ بخت
مقابله ده ډیره سخت
راشه راوا خله اوس کاپئ اوکتابونه۔ دانهٔ منمه

(ځوئے)

اَبئی زرشه بسته راکړه۔ سبق له ځمه
دَ بے زبانه مرغو ناخلم آزارونه۔ سبق له ځمه

(مور)

لوئے شے بچے! لوئے شے زهٔ داوایمه
دَ خپل وطن اوکړه په نره خدمتونه۔ زهٔ داوایمه

Courtesy www.pdfbooksfree.pk

زۀ به اوّل راځمه په امتحان کښے

لکه د ستوری به ځلیږم په آسمان کښے
زۀ به اوّل راځمه، زۀ به اول راځمه په امتحان کښے

زۀ به سبق وایم په مینه
هره خبره به کوم سپینه

په نبو اخلاقو به یادیږم په جهان کښے
زۀ به اوّل راځمه، زۀ به اوّل راځمه په امتحان کښے

سحر پاسمه به د وَخته
نۀ به کرځیږمه بے وخته

چه کار په وخت نۀ کوی پاتے شی په زیان کښے
زۀ به اوّل راځمه، زۀ به اوّل راځمه په امتحان کښے

کوم ادب د مور و پلار
ییم د اُستاد و پیر تا بعد ار

د ژوند د سختو رم ساتی دوئی په آسمان کښے
زۀ به اوّل راځمه، زۀ به اوّل راځمه په امتحان کښے

(۳ مئی ۱۹۹۰ء)

Courtesy www.pdfbooksfree.pk

کله چه زلے شم

زۀ د خپل وطن سره به مینه محبت کووم
دیر به پرے غیرت کوُوم کله چه زلے شم

زۀ د خپل وطن په ننګ ځان به کړم قربان
دا بنکلے وطن زما دیدے په ما کړا ن
څوک چه ودته بد کوری مدام به ترے نفرت کووم
دیر به پرے غیرت کووم کله چه زلے شم

غږونه به کلو نه شی شاړے چمنونه شی
هر خوا خوشحالئ به وی ورک به ټول غمونه شی
زۀ به اتحاد اوورو ولی په صداقت کووم
دیر به پرے غیرت کووم کله چه زلے شم

زۀ به شپه اوورځ مدام کار د ودانئ کووم
نۀ به روستو کیږم کار به په سیالئ کووم
زۀ د لوئے وړوکو به په هرحال کښے عزت کوُوم
دیر به پرے غیرت کووم کله چه زلے شم

Courtesy www.pdfbooksfree.pk

د میمونے د سالگرے په موقعه

ننۍ د خوشحالئ نه شی ویشلے شیرینئ
شوه پوره د کال نن بنکلے شیرینئ

شکر دا الله دے میمونه شوله د کال
نن ځکه لیدلے شی ښۀ بنکلے سنبال

آخلی قدمونه دا کوره څۀ په خیال
کړئ ورته لوګے د نظر چرته باقئ
شوه پوره د کال نن بنکلے میمونئ

دا د موږ د مهډ شی دا د پلار آرام
دا د خوشحالو ډشی دوئ لره پیغام
دا ډ ښۀ نصیبه شی دا ډ وی نیک نام
شی رنړا رنړا ډ دا په شانے د بجلئ
شوه پوره د کال نن بنکلے میمونئ

شه د دے نصیب مینه تل د مور و پلار
هم د ننیا نیکۀ دُعا وی ډ په بار بار
مینه یئ د ترونو ډ وی صدا بهار
خدا یئ ډ دلته راولی ډیرے خوشحالئ
شوه پوره د کال نن بنکلے میمونئ

Courtesy www.pdfbooksfree.pk

مَلګرو! وایئ سَبقونه

زمونږ په سر دَ ودانئ دی ټول کارونه
ملګرو شابئ، ملګرو شابئ وایئ سبقونه

ملګرو شابئ کړئ تلوار
چه کړو وطن ګل و ګلزار
راځئ چه اوکرو هر خوا ښکلی ګلونه
ملګرو شابئ ملګرو شابئ وایئ سبقونه

مونږ ه به کړو وطن آباد
هر څوک به کړو په زړګی ښاد
چا پیړه اوری به دَ مینے بارانونه
ملګرو شابئ ملګرو شابئ وایئ سبقونه

مونږ ه دَ یو بل نه زاریږو
په غم دَ یو بل خفه کیږو
دَ خپل وطن به تل کوو مونږ خدمتونه
ملګرو شابئ ملګرو شابئ وایئ سبقونه

Courtesy www.pdfbooksfree.pk

ګلونو ماشومانو

ستاسو راغلی په دَ لو دَ لو خطونه
ټول وائی سلامونه ګلونو ماشومانو!

دا خط دَ سوات دا دَ بُنیر دے
دا دَ درګئ دا دَ ورتیر دے
صفت یئ کړے ستاسو ډیر دے
دَ ملاکنډ دَ ډویژن دی دا ځایونه
ټول وائی سلامونه ګلونو ماشومانو!

او ګورئ څۀ ښکلے چیټئ دہ
راغلی خاص لہ صوابئ دہ
دا ورسرہ هم دَ ټوپئ دہ
دی دَ مردان دَ ډویژن ښکلی ښارونه
ټول وائی سلامونه ګلونو ماشومانو!

دا دَ پبو تحصیل نو ښار دے
دا پیښور ډیر ښکلے ښار دے

Courtesy www.pdfbooksfree.pk

په هشنغر کښے تنکے شمار دے
د پښتور د ډویژ دی دا خطونه
تول وائی سلامونه کلونو ماشومانو!

دا خط د ښوں دا د کرک دے
دا د ډیرو د مینے ډک دے
دا ماشهره دا د اتک دے
وائی غنچه پروکړام ډیر ډیر خوښوو مه
تول وائی سلامونه کلونو ماشومانو!

۱۸ر اګست ۱۹۸۹ء

Courtesy www.pdfbooksfree.pk

نصیب موشه بچو دَ خوشحالئ ګلونه

لاړ شئ مدرسے ته سبق نور تا سو یاد کړئ
ګلونو ما شو ما نو سبق کور تا سو یاد کړئ

دا خو دَ پاک الله احسان دے
چه په هر کلی کښے شو جوړ ته درسکولونه
نصیب موشه بچو دَ خوشحالئ ګلونه
سبق نور تا سو یاد کړئ

واوړئ ګلونو ما شو ما نو
دَ خپل وطن دَ ترقئ او کړئ سو چونه
نصیب موشه بچو دَ خوشحالئ ګلونه
سبق نور تا سو یاد کړئ

دَ هر یتیم په غم په کار شئ
چه خوارے کوندے تل دُعا دزنه کوینه
نصیب موشه بچو دَ خوشحالئ ګلونه
سبق نور تا سو یاد کړئ

دَ خوشحالئے دوران به راشی
چه لوئے واړه دَ خپل وطن کړی خدمتونه
نصیب موشه بچو دَ خوشحالئ ګلونه
سبق نور تا سو یاد کړئ

لاړ شئ مدرسے ته سبق نور تا سو یاد کړئ
ګلونو ما شو ما نو سبق کور تا سو یاد کړئ

Courtesy www.pdfbooksfree.pk

لارے کوڅے

دے ځلے خطا شو جوړ شو نساتونه
بیا لارو کوڅو کښے به نهٔ تړو میچونه

لارو په کوڅو کښے گرځی ماشومان
هم کونټئ په لاس گرځی بوډا گان
اولږی په بال جوړ شی پرے زخمونه
بیا لارو کوڅو کښے به نهٔ تړو میچونه

کله دَ کړکئ شیشه کله دَ موټر
کله مو په بال باندے اولږی خپل سر
شی زمونږ نه پاتے بیا واړه کارونه
بیا لارو کوڅو کښے به نهٔ تړو میچونه

هیڅ نهٔ شی کیدلے اوس یُو مونږ ه ستومانه
خپلو خوشحالو لره نور کړو پریشانه
مونږ ه په تیر وخت پسے ډیر کړو ارمانونه
بیا لارو کوڅو کښے به نهٔ تړو میچونه

Courtesy www.pdfbooksfree.pk

زۀ به جوړیږمه پائیلټ

د خپل وطن به تل کوومه خدمتونه
چلوم به جهازونه، زۀ بره په هوا کښې
زۀ به جوړیږمه پائیلټ
وی به په سر زما هیلمټ
کوم په دُشمن به زۀ ریپټ
زۀ دَ ګولو به ورَوُمه بارانونه
چلوم به جهازونه، زۀ بره په هوا کښې
زۀ به په فوځ کښې بهرتی کیږم
تکړه سپاهی به زۀ جوړیږم
له خپل وطن به قربانیږم
دَ هر دُشمن سره کومه به جنګونه
چلوم به جهازونه، زۀ بره هوا کښې
وطن زما زۀ دَ وطن یُم
زۀ خو ما لیار دَ دے چمن یُم
زیات دَ هرچا نه پرے مئین یُم
په خپل وطن به زۀ کوومه ډیر خیالونه
کوم به پروازونه زۀ کله چه زلمے شم

Courtesy www.pdfbooksfree.pk

وایُو سبقونه

باجی! لتا سره کوؤ مونږه لوظونه
خفه شوے ولے، خفه شوے ولے وایو سبقونه
وردی زمونږه ده یو شان
اوس فرق لاړ دَ غریب خان
نهٔ را نه غواړی مدرسو کښے اوس فیسونه
خفه شوے ولے، خفه شوے ولے وایو سبقونه
تعلیم چه او کړو هو ښیاران شو
په ښهٔ بَد پوهه عالمان شو
بیا په هر ځائے به زمونږ کیږی صفتونه
خفه شوے ولے، خفه شوے ولے وایو سبقونه
زمونږ عزت زمونږ دَ قام دے
زمونږ راحت دَ قام انعام دے
اوس به را وا خلو مونږ تختئ اؤ قلمونه
خفه شوے ولے، خفه شوے ولے وایو سبقونه
باجی! له تا سره کوؤ مونږه لوظونه
خفه شوے ولے، خفه شوے ولے وایو سبقونه

Courtesy www.pdfbooksfree.pk

مهٔ ساتئ کونترے

گلونو! واؤرئ یؤ څو خبرے
چه اونهٔ ساتئ گورے کونترے

کومه درته دا نصیحت
دَ هر څهٔ نه دے دا بد عادت
اوسیږئ مدام دَ دے نه لرے
چه اونهٔ ساتئ گورے کونترے

پرے به اوځئ دَ کوټے ښکته
ماته به شی پښه مو چور لټه
قدم په قدم به خورئ ډغرے
چه اونهٔ ساتئ گورے کونترے

کونترے کوی ډیر ډیر آزار
خوشحاله ما شوم کړی خوار وزار
پریږدئ چه وائی چرته سندرے
چه اونهٔ ساتئ گورے کونترے

Courtesy www.pdfbooksfree.pk

زهٔ ستاسو موټر یمه

زهٔ دَ سیل دَ پاره ښهٔ جوړ شوے په هنر یمه
زهٔ ستاسو موټر یمه، زهٔ ستاسو موټر یمه

خیال کوئ بچو ړو چر ته لاس را نه بهر نهٔ کړئ
یا چه زهٔ په منډه یم بهر چر ته خپل سر نهٔ کړئ
ما چه څوک خفه کړی بیا وَ لاړ ور ته پنچر یمه
زهٔ ستاسو موټر یمه، زهٔ ستاسو موټر یمه

ښکلے څلور پښے زما خاص لکه څاروو په شان
سترګے مے رنړا کوی دَ شپے لکه پیشو په شان
هسے نه تهٔ وائے په رښتیا زهٔ ځناور یمه
زهٔ ستاسو موټر یمه، زهٔ ستاسو موټر یمه

ما سره چیرچاړ مهٔ کړئ زهٔ دَ یوے لارے یم
ناست ښهٔ په قلار اوسه په شاړه کهٔ هوارے یم
کله چه غصه شم بیا دَ ځان نه ناخبر یمه
زهٔ ستاسو موټر یمه، زهٔ ستاسو موټر یمه

زهٔ ولاړ حاضر یم څوک کهٔ تلهٔ غواړی یا نهٔ غواړی
تیز شم کله ورو شمه هر څهٔ چه داستا زړهٔ غواړی
کله چه بے واکه شم، په سمه نهٔ په غر یمه
زهٔ ستاسو موټر یمه، زهٔ ستاسو موټر یمه

Courtesy www.pdfbooksfree.pk

باز (شاهین)

زهٔ ښکلے شاهین یمه اوسیږم دنګو غرونو کښے
ژوندے نهٔ تیریږی چه ساتی م څوک کورونو کښے

تیز دے ډیر نظر زما
مضبوطے دی وَزر زما
قیمت اوچت سرهٔ زَر زما

زهٔ چه را شُغله شم مرغئ پټے شی په وُنو کښے
زهٔ ښکلے شاهین یمه اوسیږم دنګو غرونو کښے

تیزه م منبوکه ده
مضبوطه زما نوکه ده
کور م دَغرهٔ څوکه ده

زهٔ په آزادئ مئین یادیږمه قامونو کښے
زهٔ ښکلے شاهین یمه اوسیږم دنګو غرونو کښے

دے تیرهٔ آواز زما
ډیر اوچت پرواز زما
ځکه نوم شهباز زما

ځائے په ځائے راغلے یمه ستاسو کتابونو کښے
زهٔ ښکلے شاهین یمه اوسیږم دنګو غرونو کښے

Courtesy www.pdfbooksfree.pk

زمرے

۱۱ر اکتوبر ۱۹۹۰ء

باچازۀ دَ ځنګل یئم مشهور په بهادر یئمه
یو داسے ځناور یئم زۀ یو داسے ځناور یئمه

نۀ خورمه چرے پردے ښکار
دے په خپل متمومے اعتبار
اوسم دننه پټ په غار

لرے آبادونه، لرے آبادونه زۀ خوشحاله ډیر په غر یئمه
یو داسے ځناور یئم، زۀ یو داسے ځناور یئمه

هر ځناور رانه ویریږی
چه وینی ما سلامی کیږی
په هر چا آډرے چلیږی

بس بے دَهاتی نه، بس بے دَهاتی نه نور په هر چا زړۀ ور یئمه
یو داسے ځناور یم، زۀ یو داسے ځناور یئمه

په چا لاکئ هیڅ نۀ پوهیږم
تل په دوکه زۀ راګیریږم
بیا آزادئ پسے ژړیږم

هیڅ نۀ شم کولے، هیڅ نۀ شم کولے چه بندی په پورے وَر یئمه
زۀ یو ځناور یئم، زۀ یو داسے ځناور یئم

Courtesy www.pdfbooksfree.pk

د لوڵکئ سندره

زهٔ د سرو ګلونو د ګلشن یو نیا پیړئ یمه
بنګلے لوڵکئ یمه، زهٔ بنګلے لوڵکئ یمه

زهٔ په ظاهر ګل بلبل یمه زهٔ د ګل بلبل یمه
زهٔ د قدرنونو د نیا ئست یو شهزادګئ یمه
بنګلے لوڵکئ یمه، زهٔ بنګلے لوڵکئ یمه

نهٔ پوتے لشه لرم نهٔ سر کښے نشه لرم
بنګلے سنبال ګرځمه هرڅوکه صحرانئ یمه
بنګلے لوڵکئ یمه، زهٔ بنګلے لوڵکئ یمه

زهٔ په ګل بنرین مه ګل نه خوشحالین مه
چوته چه بنګلاوی د هغے زهٔ لیونئ یمه
بنګلے لوڵکئ یمه، زهٔ بنګلے لوڵکئ یمه

مانه څهٔ عبرت واخلئ لږ د پیر نصیحت واخلئ
زهٔ یو بے آثاره نمونه د عاجزئ یمه
بنګلے لوڵکئ یمه، زهٔ بنګلے لوڵکئ یمه

۱۴ جون ۱۹۸۹ء

Courtesy www.pdfbooksfree.pk

زړه ستا سوبا نګی یم

زړه ستا سوبا نګی یم، پاسوومه مو ډ وخته
ویم نه څنګه چه ناوخته زړه ټوله شپه بیداریم

زړه خو پاسم وختی سحر لا را ختلے نه وی نمر
یمه که مورنۍ یا نهر کنړم دا فرض په خپل سر

زما په څه چه پا نه سی وی بد بخته
ویم نه څنګ نا وخته زړه ټوله شپه بیداریم

چه چرته وی شپه ماشومان هغه پاسی سحری مړ ان
اوکړی کاروونه په شپه شان بیا مدرسے ته شی روا ن

چه وی ناراسته سزا خوری مدام په لخته
ویم نه څنګ نا وخته زړه ټوله شپه بیدا ریم

زړه ټوله شپه اوسم بیدار یم مشهور پوره هوښیار
هروخت ډ نورو تا بعدار تاسو هم خپله کړئ دا لا ر

هغه خوشحاله وی چه تیره کړی ځوک سخته
ویم نه څنګ نا وخته زړه ټوله شپه بیدار یم

Courtesy www.pdfbooksfree.pk

میلو

۲۴ ستمبر ۱۹۹۰ء

پیزوانی شوے مداری سره گرځیږم
اوګورئ ګډیږم یا ښکلی ګُلانو!

په اشارو د بل ګډیږم
چه پیسه ونیم خوشحالیږم
چرے د چانه نهٔ شرمیږم
په ماشو ماتو ګورے ډیر زهٔ خفه کیږم
اوګورئ ګډیږم یا ښکلی ماشومانو

مدام د بل سَاتمه خیال
په خپله یُم کهٔ ډیر ملال
ویمه چه بل دِ وی خوشحال
تن یم راغلے پروګرام کښے شاملیږم
اوګورئ ګډیږم یا ښکلی ماشومانو!

چه څوک ما اوګنړی کمبل
بیا نهٔ شی تلے مانه په چَل
زهٔ ئے رانیسم لکه غَل
زهٔ په نامه د مَیلو هر ځائے کښے یادیږم
اوګورئ ګډیږم یا ښکلی ماشومانو!

Courtesy www.pdfbooksfree.pk

۲۶ ستمبر ۱۹۹۰ء

منژک

زهٔ ټوله شپه گرځېږمه خونهٔ یم ښاپیرک
ما پېژنئ زهٔ څوک یم، وُوایئ چه منژک

پټ پټ گرځېږم د بجلو د لاسه
په ویره ویره د پیشو د لاسه
نهر نهور خپلو بچو د لاسه

زهٔ لویو وړو ته په هر کور دننه سپک
ما پېژنئ زهٔ څوک یم، اووایئ چه منژک

زسوم پنجرے ته زهٔ خپل ځان
ونیم چه پیاز یا آلو گان
غواړم خوراک دا په نیهٔ شان

دے ته مے گیډه کښے منژک شی په ترپک
ما پېژنئ زهٔ څوک یم، اووائی چه منژک

شم چه پنجره کښے زهٔ راگیر
هر سړے شی را ته سم شیر
هر څوک زما د مرگه تیر

ماما ډیرے غصے نه هم را واخلی غټ کوتک
ما پېژنئ زهٔ څوک یم، اووائی چه منژک

Courtesy www.pdfbooksfree.pk

د ښکاري سندره

واؤ رئ بچو واؤ رئ یو قیصئ درته کوومه
بهادرزهٔ څومره وُمه
تلے وُم څنګل ته بچو! زهٔ یوځل په ښکار
روان وُمه په لاس
زهٔ وُمه روان هم راسره وو یوڅو توپک
توپک دَ ګولو ډک
هلته یو شادو زهٔ په غوزانو اوویشتمه
زهٔ غلے کښینا ستمه
شادو رم غلے غلے دا سے پښے نه اونیوُله
ماوے څه اوس رم اوله
بیا رو ستو را ته سرهغه شادوشوه په فریاد
ماوے دا لره یاد
ماوے چرته ښکاری سره بیا اونکړے تهٔ توقه
شی چوړه به ترے بوقه
روان شومه په څه وراندے بیا عجیبه شوروو
په کډا یو ښکلے مور وو

Courtesy www.pdfbooksfree.pk

په مخه وړاندے لاړمه خاموشی وَه ډیره زیاته
هیڅ پته نهٔ وَه چا ته

ناساپه دَ یو غړم سره زمرے راا ووتلو
دَ څټ م او نیو لو

ما وے بچیه ا شا به سلام اوکړه ګنی لاړے
معافی به را نه غوا ړے

هغه اوکتل اَ خوا د نیخوا بیا یئ وے سلام
وے یمه دِ غلام

ما وے بچیه! تل به زما ګوره تا بعدا رئے
ویم بیا به ګنی خوا رئے

(ناساپی څوک ډز اوکړی ښکاری ویریږی تښتی)

Courtesy www.pdfbooksfree.pk

دمداری سندره

۱۷ مئی ۱۹۸۹ء

دلته راغونډ شوی دَ سپرلو غوټۍ ګلو۔ شادوګیه!
دوئ ته دَ چا ښکلی ماشوم ښکلے پیخے اوکړه
ماته یئے په وړه ژبه ډیر کړیدی سوالونه۔ شادوګیه!
دوئ ته دَ چا ښکلی ماشوم ښکلے پیخے اوکړه

هغه پیخے اوکړه چه ترے دوئ واخلی عبرت
کار دَ مشقت کښے ونیم هر ځایئے کښے عزت
ګټه دَ حلالو کښے مُدام وی برکت

تن دَ دوئ په وړاندے یؤ څو اووهه ټوپونه۔ شادوګیه!
دوئ ته دَ چا ښکلی ماشوم ښکلے پیښے اوکړه

ستا په دے ټوپونو کښے لوټو نه دی آرام دے
نشته پلاوونه نهٔ چرګان څهٔ اوکړم ناکام دے
دا بچی خوشحاله کړه هم دا زمونږ انعام دے

اووهه یؤ څو دَ دوئ په وړاندے چوریکونه۔ شادوګیه!
دوئ ته دَ چا ښکلی ماشوم ښکلے پیښے اوکړه

داسے یؤ ماشوم چه دَ غریبو مددګار شی
داسے یؤ ماشوم چه په سبق کښے ډیر هوښیار شی
داسے یؤ ماشوم چه دَ دے خپل وطن معمار شی

هله بچے! شا به دوئ ته اوکړه سلامونه۔ شادوګیه!
دوئ ته دَ چا ښکلی ماشوم ښکلے پیښے اوکړه

Courtesy www.pdfbooksfree.pk

دَ فالی سَندره

ماته نجوم کښے ستوری وائی تمول حالونه
گورمه لاسونه بچو گورمه فالونه

زهٔ دَ هرچا گورمه لاس
وایم چه فیل به شے کهٔ پاس
خیرن خیچن زما لباس

راشئ چه اوگورمه ستاسو قسمتونه
گورمه فالونه بچو! گورمه فالونه

ستاسو نصیب کښے خوشحالئے دی
پکښے روپئ دَلئ دَلئ دی
راتلونکی ژوند کښے سُکالئ دی

دَ لاس په کرښو کښے مو ښکاری ښهٔ وختونه
گورمه فالونه بچو! گورمه فالونه

لر کړئ لیندے واخلئ قلم
داخو شحالی ده دغه غم
شئ دقا مونو سره سَم

ویم پس له دے چه گورے اونهٔ کړئ جنگونه
گورمه فالونه بچو! گورمه فالونه

Courtesy www.pdfbooksfree.pk

۹ جون ۱۹۹۰ء

چولے گرّم

مادی راؤړی ډیر دَ لرے نه تودے
واخله چولے ډیرے خوږے ښهٔ دَ مزے

چولے خوږے مصاله دارے
ډیرے ترسکونے مزیدارے
هر څوک یئے خوری چه ځی په لارے
مرچ مصاله پکښے پوره دَ آندازے
واخله چولے ډیرے خوږے ښهٔ دَ مزے

لوښی زمادی کنډ کپر
گرځوم چاپړے هر وخت په سر
ویم نهٔ شئ پاتے څهٔ نهر
هغه به یئے خوری چه وی چه وی دَ چاشره پیسے
واخله چولے ډیرے خوږے ښهٔ دَ مزے

نشته غریب نهٔ چرته خان
ټول یئی یوشان ماشومان
یئی دلته ناست ځکه یوشان
الله دِ درکړی ډیرے کلکے حوصلے
واخله چولے ډیرے خوږے ښهٔ دَ مزے

Courtesy www.pdfbooksfree.pk

دُعَا

اے ماشومانو! شئ کوو کلے
برہ نیولی مے پہ دعادی جوړہ لاسونہ
اے ما شومانو!

دَ خپل وطن چمن ښائستہ کړئ
کلو نو! سوال پہ عاجزئ درتہ کوومہ
اے ماشومانو!

دَ مشرانو عزت پہ کار دے
پہ دا سے کار بہ مونږہ ټول فخر کوونہ
اے ماشومانو!

پہ اتفاق کښے برکت دے
ټول بہ یو موټے دَ وطن خدمت کوونہ
اے ماشومانو!

سبق پہ مینہ سرہ بہ وایو
چہ پہ دُ ښا کښے مو وطن روښانہ شینہ
اے ما شومانو!

Courtesy www.pdfbooksfree.pk

گرانبا باجانه

شمیره	اولنۍ مصرعه	مخ
۱	ماشومان او سیق	۷۷
۲	روژه او واوره	۷۹
۳	ډزے	۸۰
۴	پولیس	۸۱
۵	کچهرۍ	۸۲
۶	قیدی	۸۳
۷	زرګر	۸۵
۸	سړکونه	۸۷
۹	هوټل	۸۸
۱۰	تپوس پوښتنه	۸۹

Courtesy www.pdfbooksfree.pk

ماشومان اؤ سبق

نمسے:۔ کرانہ بابا جانہ!

بابا:۔ قربان بچے لہ تا نہ!

نمسے:۔ دا ولے ماشومان دَ سبقونو نہ پتیږی؟

بابا:۔ دا ځکہ چہ پہ سُود زیان باندے ھیڅ دوئ نۂ پوھیږی

نمسے:۔ کرانہ بابا جانہ!

بابا:۔ قربان بچے لہ تا نہ!

نمسے:۔ سبق چہ څوک اونۂ وائی نوښۂ ورباندے کیږی

بابا:۔ بے سبقہ څو یہ! سړے ھیڅ نۂ پاتے کیږی
نۂ دَ ھوښیارانو پہ شمیرہ کښے حسابیږی
اؤ نۂ دے پہ آدابو دَ محفل چرے پوھیږی

نمسے:۔ کرانہ بابا جانہ!

بابا:۔ قربان بچے لہ تا نہ!

نمسے:۔ دا ھر وخت چتیاتو نہ دوئ ولے خوشحالیږی

بابا:۔ دا ځکہ چہ پہ لوبو باندے چرے نۂ مړیږی
دا لوبے دغہ شانے نورو لوبو کښے بدلیږی
چرتہ پہ دیسونو جوارو کښے سنگارہ کیږی
چرتہ پہ دیسونو اولانڑو کښے څرکندیږی
دا سے دا کلونہ مړاوی کیږی بیارڑ یږی

Courtesy www.pdfbooksfree.pk

نمسے :- گرانه بابا جانه؛

بابا :- قربان بچے له تانه!

نمسے :- څوک چه سبق اووائی نوڅهٔ ترنیه جوړیږی

بابا :- دوئ نه محافظ دَ خپل وطن اوقام جوړیږی

دوئ ته دَ وطن واګے بچے حواله کیږی

هم دوئ دَ خپل وطن په ښئه او بدهٔ په کاریږی

Courtesy www.pdfbooksfree.pk

روژه اؤ واؤره

نمسے :- گرانه باباجانه!

بابا :- قربان بچے له تانه!

نمسے :- دغه خلق څوک دی چه یؤبل نه وړاندے کیږی

بابا :- بچے! دا روژتیان دی دلته واؤره ملاویږی

نمسے (مسکے) منبه ما ویلے گبین دے پرے مچئ راغوته کیږی

(پتادئ) هله باباجانه! خلق یوبل ته نیخیږی

اوس به هیڅ بے هیڅه په جگړه کښے دوئ خوگیږی

بابا :- هرکالے روژه کښے بچے! دا دغسے کیږی

یوگټ واؤرے دَ پاره سوک څپیړے ته جوړیږی

لاسونه غاښ اؤ سَر پکښے تیرے دَ دوئ ماتیږی

دَ کور په ځائے بچیه! که گور ته اورسیږی

نمسے :- گرانه باباجانه!

بابا :- قربان بچے له تانه!

نمسے :- داولے دغه خلق په خپل سُود زیان نهٔ پوهیږی

بابا :- بچے! بدلحاظی ده په دے شکل څرگندیږی

کشر مشر نشته په زور خلق را ځائیږی

دغسے گرمی سړ دی دے واؤره باندے کیږی

Courtesy www.pdfbooksfree.pk

ډزے

نمسے:۔ ګرانه بابا جانه!

بابا:۔ قربان بچے له تا نه!

نمسے:۔ دادا سے په ښادو کښے ډیرے ډزے ولے کیږی

بابا:۔ دغه رنګے یؤ ته دَ بل مینه ښکاره کیږی

نمسے:۔ په ډزو بابا جانه! خو اکثر خلق خوګیږی

بابا:۔ بے ډزو نمسیه چه ښادی یے نه جوړیږی

بیا ورو ستو مور اؤ پلار ئے ورته شپه اؤ ورځ ژړیږی

له دے ډزو بچیه! دښمنئ ډیرے جوړیږی

له دے هسپتالونه له زخمیانو نه ډکیږی

په دے باندے بچیه! بس پیسه ده ضائع کیږی

Courtesy www.pdfbooksfree.pk

پولیس

نمسے :- گرانه بابا جانه!

قربان بچے له تانه!

نمسے :- دغه سړے څوک دے چه ټوپک په لاس گرځیږی

بابا :- دا بچے! سپاهیان دی حفاظت زمونږه کیږی

نمسے :- ښه ما وے که زما په شان دَ غلونه دوئ ویریږی

بابا :- نه بچیه! نه دوئ دَ هیچا هم نهٔ ویریږی

نمسے :- گرانه بابا جانه!

بابا :- قربان بچے له تانه!

نمسے :- دا هر ځائے په چوکونو دا سپاهیان څهٔ له وُدریږی؟

بابا :- دوئ چه کله نهٔ وی گاډی خپلو کښے جنگیږی

نمسے (مسکے) ښه ما وے کهٔ لوټونه په دوئ دلته راوریږی

بابا :- غلے شه کم عقله په دے ډیر دوئ خفه کیږی

نمسے :- گرانه بابا جانه!

بابا :- قربان بچے له تانه!

نمسے :- دادا سے تا لاشئ څله سړکونو باندے کیږی؟

بابا :- په دا سے غل اؤ ساز ښه په آسانه معلومیږی

نمسے :- ښه ما وے جوړے لاړلو بابا م راکیږیږی؟

بابا (مسکے) ساز سړے مدام لکه سپین باز بچے گرځیږی

Courtesy www.pdfbooksfree.pk

کچهرئ

نمسے:۔ گرانه باباجانه!

بابا:۔ قربان بچے له تانه۔

نمسے:۔ دلته کښے دا خلق آخر څهٔ له راغونډیږی

بابا:۔ بچے! دا کچهرئ دی فیصلے دلته کښے کیږی

نمسے:۔ گرانه باباجانه!

بابا:۔ قربان بچے له تانه۔

نمسے:۔ دغه سړی څوک دی چه په منډه راز غلیږی

بابا:۔ دا بچے شایدان دی گواهی دلته کښے کیږی

لاره د انصاف کښے د دوئ مرسته پکاریږی

نمسے:۔ دا خو ډیر ښهٔ خلق دے چه فکرے رسیږی

نن د بل په سخته کښے څوک چرته پکاریږی

بابا:۔ اؤ بچے تهٔ ښهٔ وائے هر څوک په دے پوهیږی

خو کله کله دوئ کښے دا سے خلق پیدا کیږی

چه شپه اؤ ورځ یئے ژبه په دروغو باندے چلیږی

دا ځکه فیصلو کښے ګګلیچونه راوچتیږی

نمسے:۔ گرانه باباجانه!

بابا:۔ قربان بچے له تانه!

نمسے:۔ آخر په کومه طمعه په لالچ دغسے کیږی

بابا:۔ (افسوس) چرته سړهٔ لوټونه، شنهٔ لوټونه وړاندے کیږی

چرته خوراکونه پوشاکونه ورکړے کیږی

اؤ چرته په بدل د بل د پاره دا سے کیږی

Courtesy www.pdfbooksfree.pk

نمسے:- گرانہ بابا جانہ!

بابا:- قربان بچے لہ تانہ!

نمسے:- کلہ بہ دا خلق حق ناحق باندے پوھیږی

بابا:- ھر سړے پوھیږی خو ھیڅوک ھم نۀ پوھیږی

قیدی

نمسے:- گرانہ بابا جانہ!

بابا:- قربان بچے لہ تانہ!

نمسے:- دغہ سړے څوک دے چہ زنځیر پہ لاس گرځیږی

بابا:- دا بچے! قید یان دی اوس پہ جیل کښے نبدی کیږی

نمسے:- گرانہ بابا جانہ!

بابا:- قربان بچے لہ تانہ!

نمسے:- داولے؟ دا پہ څۀ دے جیل خانو تہ دوئی رسیږی

بابا:- عمل دَ لارے مَل دے پہ دے ھر سړے پوھیږی

نمسے:- دوئی پسے بچی اؤ مور اؤ پلار خو بہ ژړیږی

بابا:- (اسیو لے کوی) دوئی تہ بہ خپل کور اؤ کلے ھر ساعت یادیږی

اوس بہ نۀ غمونو نۀ ښادو کښے شریکیږی

Courtesy www.pdfbooksfree.pk

نۀ یه په شو قدر نۀ اختر کښې خوشحالیږی
دوئ ته خپل ضمیر به هر وخت وړاندے وړاندے کیږی

نمسے:- ګرانه بابا جانه!

بابا:- قربان بچے له تانه!

نمسے:- دا ولے انسانان دا سے دَ بل دشمنانان کیږی

بابا:- هر څوک بچیه! سیر دے یو تو له هم نۀ کمیږی

بابا:- غواړی چه هر ځائے کښې بس ددۀ نامه یادیږی
ګټه وَ ته ټوله دِ دَ دۀ کورته چلیږی
دے دِ په عزت وی خیر کۀ ورور عزیز کړیږی
د غسے جیلو نه دَ دے خلقو نه ډکیږی

Courtesy www.pdfbooksfree.pk

زرګر

نمسے :- ګرانه باباجانه!

بابا :- قربان بچے له تا نه!

نمسے :- دغے الماری کښے دا سرهٔ سپین دَ څهٔ ښکاریږی

بابا :- دا بچے کالی دی په ښادو کښے په کاریږی

نمسے :- دا خو ډیر ښائسته دی دا دَ څهٔ څنے جوړیږی

بابا :- دا بچے سرهٔ زر دی په هنر کالی جوړیږی

نمسے :- ګرانه باباجانه!

بابا :- قربان بچے له تا نه!

نمسے :- ماله ترے یؤ واخله دا خو ډیر زما خوښیږی
لږے پیسے شته ما سره واخله که پرے کیږی

بابا :- پام کوه بچیه! دلته هر څوک دهوکه کیږی
دا هر څهٔ به زر نهٔ ګڼړے له ورایه چه پرقیږی

نمسے :- ګرانه باباجانه!

بابا :- قربان بچے له تا نه!

نمسے :- نو زَر به باباجانه! اصلی څهٔ رنګ معلومیږی

بابا :- عقل دَ بابا دِ خپله دے ته نهٔ رسیږی
زرګر په ملاوټ کښے دَ نچوا راسے یادیږی

Courtesy www.pdfbooksfree.pk

هر سړے له دوئ نه تل په سرو ستر گوژ ړیږی

نمسے:- بیا ولے گنړه گو نړه دے کالو باندے جوړیږی

دغه خلق ولے په خپل سُود زیان نهٔ پوهیږی

بابا:- هر سړے پوهیږی خو دَ یؤبل مجبوریږی

بے کالو بچیه نهٔ کوژد نه دَ دوئ کیږی

نهٔ دَ دوئ وَدونه بے کالو سرته رسیږی

هر ښائست بچیه! دے کالو سره جوړیږی

نمسے:- گرانه بابا جانه!

بابا:- قربان بچے له تانه!

نمسے:- دا خبره ما ته عجیبه شانے ښکاریږی

څوک چه ښائسته نهٔ وی په کالو نهٔ ښائسته کیږی

ما ته دے کالو کښے خو څهٔ داسے نهٔ ښکاریږی

بابا:- غلے شه کم عقله! په دے ډیر دوئ خفه کیږی

تهٔ نهٔ یئے خبر دَ دے دَ پاره چه څهٔ کیږی

بډے رشوَ تو نه دے دَ پاره اخستے کیږی

شو کے اؤ غلا گانے دے دَ پاره بچے کیږی

دَ پلار نیکهٔ هډونه دے دَ پاره وی خرڅیږی

دے کالو دَ پاره هر جائز ناجائزه کیږی

دغسے دَ خلقو سیالی یؤبل سره کیږی

Courtesy www.pdfbooksfree.pk

سرکونه

نمسے:۔ گرانہ باباجانہ!

بابا:۔ قربان بچے لہ تا نہ!

نمسے:۔ دا پاخۂ سرکونہ آخرخۂ لرہ جوړیږی

بابا:۔ پہ دے باندے مونږلارئ دَ شپے ورځے چلیږی

نمسے:۔ دا پاخۂ سرکونہ داسے زرولے ورانیږی

بابا:۔ دا چہ نۂ ورانیږی بیا ډیر خلق نہ ریږی

نمسے:۔ گرانہ باباجانہ!

بابا:۔ قربان بچے لہ تا نہ!

نمسے:۔ پیسہ دغے سرکونولہ کوے پیدا کیږی

بابا:۔ دا زما اوستانہ پہ ټیکسو نو جمع کیږی

نمسے:۔ گرانہ باباجانہ!

بابا:۔ قربان بچے لہ تا نہ!

نمسے:۔ دَ قام پیسہ دا رنگے آخرولے ضائع کیږی

بابا:۔ پہ دے دِ باباجان بچیہ! هم نیۂ نۂ پوهیږی

Courtesy www.pdfbooksfree.pk

هوټل

نمسے :- ګرانه باباجانه!

بابا :- قربان بچے له تانه!

نمسے :- دا داسے دغے ځائے ته خلق ولے راغونډیږی

بابا :- دا بچے! هوټل دے چائے ډوډئ دلته خرڅیږی

دلته مسافر ساعت ګړئ له اټالیږی

دلته چائے شربت ته محفلونه راجوړیږی

دلته ګپو شپو باندے خلق مشغولیږی

نمسے :- ګرانه باباجانه!

بابا :- قربان بچے له تانه!

نمسے :- دا خلق جوړے ډیر په مینه دلته راغونډیږی

بابا :- دا مینه لباسی ده ترحاجته پورے کیږی

تل خپله درنه اؤ دَبل سپکه وی زؤ تیږی

بس لوبه دَ ډوډئ ده په رنګ رنګ کښے ښکاره کیږی

نمسے :- ګرانه باباجانه!

بابا :- قربان بچے له تانه!

نمسے :- دَ وخت په قدر ولے دغه خلق نهٔ پوهیږی

بابا :- هرسړے بچیه! په آرزان پسے ګرځیږی

اؤ وخت دلته هر وختِ په آرزانه ملاویږی

Courtesy www.pdfbooksfree.pk

تپوس پوښتنه

نمسے :- ګرانه بابا جانه!

بابا :- قربان بچے له تانه!

نمسے :- دا خلق داسے ولے دے ښارونو ته چلیږی؟

دوئ تپوس پوښتنے له دروغ رنځور رسیږی

داولے ګنړه ګونړه مریضانو ته جوړیږی؟

بابا :- څهٔ اووایم بچیه! یو دستور دے پوره کیږی

نمسے :- کلوله خووائی ډسپنسرئ ډیرے جوړیږی

بابا :- خو کلو کښے بچیه! ډاکټران نهٔ ایسار یږی

نمسے :- داولے ډاکټران ټول ښاریو ته راغونډیږی؟

بابا :- ښارونو کښے آرام اؤ خوشحالئے ټولے سرکیږی

نمسے :- دادومره ډاکټران په ښار کښے څرنګ ځائیږی؟

بابا :- په ښار کښے چه ځائے نهٔ شی بیا فارن ته روانیږی

نمسے :- داولے ډاکټران پهر ملک کښے میشته کیږی؟

بابا :- دا ځکه چه دَ نشت نه هلته ټول خلق شته کیږی

نمسے :- دَ کلو رنځوران داسے ترکومه به کړیږی؟

بابا :- عقل دَ بابا دِ دے ته خپله نهٔ رسیږی

Courtesy www.pdfbooksfree.pk

بابا:- په علم عقل چه ډیر بره اورسیږے
اووا یه بچے! څۀ به جوړیږے

ماشوم:- هغه به کومه چه به څۀ تۀ خوشحالیږے
ویمه درته څۀ به جوړیږم

(ماشوم)

زۀ به جوړیږمه ډاکټر! علاج به کوم د خلقو زر
فیس به ډیر کم کړم مقرر تاله به ټیسټ کړمه نظر
بیا به په منډه منډه هر ځائے ته رسیږے

(بابا)

اووا یه بچے! څۀ به جوړیږے

(ماشوم)

زۀ به جوړیږم تانړیدار خلقو ته ښیئم به نیغه لار
ئیم د شریف به تابعدار غل به رانیسم په تلوار
بیا په اوږدو پښو به په کټ کښے اوډۀ کیږے

(بابا)

اووا یه بچے! څۀ به جوړیږے

Courtesy www.pdfbooksfree.pk

ما هم دا دُعا کوله

کلو نو ما شو ما نو! خفه کیږئ مانه څله
خدایځے دِ تاسو لوئے کړی ما هم دا دُعا کوله

وطن زمونږ به ښهٔ آباد شی
چه لوئے وړوکے ئے کوی تل خدمتونه

خدایځے دِ کلو نو تاسو لوئے کړی
چه دا وطن بنکلے په تاسو ښائسته شینه

علم رنړا علم ښائست دے
کلو نو! شاباسے دِیر او کړئ تعلیمونه

چمن ښائسته شی په کلو نو
د وطن خاوره به په تاسو ناز کوینه

کلو نو ما شو ما نو! خفه کیږئ مانه څله
خدایځے دِ تاسو لوئے کړی ما هم دا دُعا کوله

Courtesy www.pdfbooksfree.pk

دَ مَزور سَندره

ځئ چه ځو ملګرو وخت دکار دے نن
غمونو دَ سلګو وخت دَ فریاد تیر شو

ځئ چه ځو ملګرو شپه شوه تیره وخت سحر دے کنه
پورته په کنډاؤ دَ ودانئ ختلے نمر دے کنه
خپله مو ورشو ده ښهٔ فراخه مو دَ ؤ تر دے کنه
په موتي کښے مو خپل نصیب بیدار دے نن
ځئ چه ځو ملګرو وخت دَ کار دے نن
غمونو دَ سلګو وخت دَ فریاد تیر شو

ډلے پَرے پریږ دئ چه وطن زمونږ ودان شی رښتیا
پوره مو دَ اَ دے بابا دَ زړهٔ ښکلے ارمان شی رښتیا
هم جوړ په حقیقت کښے زمونږ سیمه ګلستان شی رښتیا
هر څوک چه دا او وائی نو بهار دے نن
ځئ چه ځو ملګرو وخت دَ کار دے نن
غمونو دَ سلګو وخت دَ فریاد تیر شو

ګورئ پس له دے به یو تر بله محبت کوؤ مونږ
څوک چه شر پسند وی دَ هغونه به نفرت کوؤ مونږ
چه ملک پرے ودانیږی هغه کار به په غیرت کوؤ مونږ
هر فرد دَ دے وطن زمونږ معمار دے نن

Courtesy www.pdfbooksfree.pk

شوے خوشحالئ چم په چم

ورکے شوے تیرے د غم
شوے خوشحالئ چم په چم
تورے تیرے لا ړ لے
نمر شو بنکاره غر په سم

هر سړے بیدار شو پاسئ وخت د کار شولو
ورک سپیڑه خزان د ے اوس ملک گل و گلزار شولو

دیر وو د الله کرم
ورکے شوے تیرے د غم
شوے خوشحالئ چم په چم
نمر شو بنکاره غر په سم

Courtesy www.pdfbooksfree.pk

ځئ چه اوس همت اوکړو کار د مشقت اوکړو
ځئ چه رونړه رونړه شو یو د بل عزت اوکړو

نشته دے څوک زیات و کم
ورکے شوے تیرے د غم
شوے خوشحالئ چم په چم
نمر شو بنکاره غر په سم

ځئ چه ملک و دان کړو مونږ جوړ ترے گلستان کړو مونږ
ځئ چه مینه مینه شو غم پرے د ځان کړو مونږ

واخلئ ورونړو تیز قدم
ورکے شوے تیرے د غم
شوے خوشحالئ چم په چم
نمر شو بنکاره غر په سم

Courtesy www.pdfbooksfree.pk

مونږ به ستا کوؤسا تنه

به ډیره مینه ستا کوؤ به مونږ سا تنه
وطنه! لوظ دے مونږ حفاظت به ستا کوؤنه

مونږ به کوؤ ستا حفاظت
ترڅوچه وی مونږ کښے طاقت
تهٔ مونږ سره ئے امانت
مونږ په شریکه غم ساتو دِ له دُ ښمنه
وطنه! لوظ دے مونږ حفاظت به ستا کوؤنه

تهٔ وے زمونږ ه لوئے آرمان
وُکړو اَللّٰه په مونږ احسا ن
تهٔ یئے زمونږ ه گُلستا ن
په اُوبهٔ خوَرَ د و ینو کړو به دِ پا لنه
وطنه! لوظ دے مونږ حفاظت به ستا کوؤنه

مونږ ه به تا ساتو خوشحال
وطنه! تهٔ نهٔ شے ملال
او سے سوکاله په هر حا ل
مونږ به او سیږو په یوځایئے ستا په لمنه
وطنه! لوظ دے مونږ حفاظت به ستا کوؤنه

۱۸ر اگست ۱۹۸۹ء

Courtesy www.pdfbooksfree.pk

دُعَا

اِلٰهی! مالره عِلم مکمّل را
بل توفیق رالره هم دَ نیک عمل را
په نیهٔ خوئ چه دَ هرچا دسترګو تورشم
چه وی زړهٔ پکښے دَ مینے هغه ګوګل را
یو خوشحاله دَ بل ورور په خوشحالو کړے
هم سختئ کښے یو تربله زاریدل را
په ظالم باندے رِم تندر دَ آسمان کړے
په دُشمن باندے برے مالره تل را
هنرونه په دُ نیا بے شکه ډیر دی
خو هُنر ماله دَ زړونو رغوُل را
چه دَ کوندو یتیمانو زهٔ غم خورشم
ښکلے لِیت دَ محبت مالره بَل را

چه په ننګ دَ خپل وطن دَ سره تیرشم
دَ سے مینه ماله هرڅهٔ نه اوّل را

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



پیژند کلو

مَلاکنډ بَر دے یو کلے
داسے کلے لہ هر چرے خونۍ وو
دے آباد دغرو اس کښې
دغه غربے له مورے خوږ وو
آدم خان غوندے په مینه کښې صادق وادو
څه تپوس دچانه اوکړئ دا اُمید د باز درے خونۍ وو"

سید خالقداد اُمید

دَ زېګیدنې نیټه یکم ستمبر ۱۹۳۶ء = کلے - کوزه باز دره پلئ دره ملاکنډ ایجنسی
تعلیم ـــــ ایم اے ـــــ پیشه ـــــ ملازمت - آډټ آفیسر صوبه سرحد (ر)

چاپ شوی کتابونه

"کډه په سر" ـــــــــــ مزاحیه ډرامے

"زه یم مزدور دَ وطن" ـــــــــــ دَ محنت کشو منظوم داستان

چاپ ته تیار کتابونه

"کلئ کُل شوے" ـــ "غزلے او نظمونه" ـــ "زما به څه وائے" ـــــ مزاحیه

"زما افسانے" ـــــ خوندورے آفسانے ـــ "مزاحیه نظمونه"

"مزاحیه خاکے او مزاح زما په نظر کښې" ـــ دَ ما شومانو دَ پاره نظمونه دے کتاب نه پس دویم کتاب

"یوه شپه" ـــــــــــ دَ سنجیده چونړ شوو ډرامونه څو ډرامے